# دیهودو اعمال

تألیف او ژباړه:

فاضل افغان دارالعلوم

مولوي فضل الرحمن "عادل"

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب پېژندنه

نوم : د یهودو اعمال

لیکوال: د جامعه خیرالمدارس استاد، د افغان دارالعلوم فاضل مولوي فضل الرحمن (عادل)

اوډون: پخپله لیکوال

خپرندوی: کتابتون وېب سایټ

د خپرېدو نېټه: ۱۴۰۵ لمریز

حقوق: هر مسلمان ته د دې کتاب د چاپ او خپرولو حق شته دی.

ketabton.com - The Digital Library



لیکلړ

سریزه............................................................................................................ ٦
د یهودیت اصل او سرچینه:................................................................................ ٨
ولې اسلام د یهودیانو او عیسویانو تقلید منع کوي؟....................................................... ٩
ایا دا اسلامي امت به هم کوم وخت د یهودو او عیسویانو لارې او طریقې خپلوي؟ ................... ١١
لومړی عمل:.................................................................................................... ١٢
یهودو د خپلو اولیاوو او پېغمبرانو قبرونه مسجدونه ګرځولي و ............................................ ١٢
دوهم عمل ...................................................................................................... ١٤
یهود یو مکار، حیله‌ګر او فریب کار قوم و................................................................... ١٤
دریم عمل ....................................................................................................... ٢٢
یهودان له سلام کولو او آمین ویلو ډېر بد وړي............................................................ ٢٢
څلورم عمل...................................................................................................... ٢٣
یهود یو حسد کوونکی قوم و................................................................................ ٢٣
پنځم عمل....................................................................................................... ٢٦
یهودو خپل پېغمبر حتی د جګړې پر مهال یوازې پرېښود .............................................. ٢٦
شپږم عمل ...................................................................................................... ٢٨
یهود یو نژادپاله قوم و ...................................................................................... ٢٨
اووم عمل........................................................................................................ ٣٢
یهودو زناکاران یوازې رسوا کول.......................................................................... ٣٢
اتم عمل.......................................................................................................... ٣٣
یهودیان یو سخت‌زړي او وحشي قوم دي ................................................................ ٣٣
نهم عمل......................................................................................................... ٣٥
یهود د لمانځه پر مهال خپل لاسونه پر ملا (ډډو) ږدي.................................................... ٣٥
لسم عمل ........................................................................................................ ٣٤

ketabton.com - The Digital Library



کله به چې د یهودو ښځې حیض (میاشتنی، عادت) شوې، نو د حیوان په څېر چلند به یې ورسره کاوه........ ۳۷
یوولسم عمل........ ۳۸
یهود د رسول الله ﷺ پخواني او سخت دښمنان وو........ ۳۸
دولسم عمل........ ۳۹
د یهودو سلام د ګوتو په اشاره وي........ ۳۹
دیارلسم عمل........ ۳۰
یهود د آخرت (معاد) په اړه پوره عقیده نه لري........ ۳۰
څوارلسم عمل........ ۳۱
یهودو په یوې ګوتې سلام کاوه........ ۳۱
پنځلسم عمل........ ۳۱
یهود ظالم، ستمګر او د دعوت کوونکو وژونکي قوم وو........ ۳۱
شپاړسم عمل........ ۳۳
یهودد به په خپلو جنازو کې د اور لوښې وړلو........ ۳۳
اوولسم عمل........ ۳۵
یهودیان دنیا او مال له ټولو دینونو څخه زیات خوښوي........ ۳۵
اتلسم عمل........ ۳۶
یهودیان د خپلو مړو مخ نه پټوي........ ۳۶
نولسم عمل........ ۳۷
شلم عمل........ ۳۸
یهودو به له بوټونو سره لمونځ نه کاوه........ ۳۸
یوویشتم عمل........ ۵۱
یهودو به په سجده کې خپلې سترګې پټولې........ ۵۱
دوه ویشتم عمل........ ۵۱

ketabton.com - The Digital Library



اهل کتابو به وینښتان راپرېښودل........................................................................ ۵۱
درویشتم عمل........................................................................................................ ۵۲
یهود وایي: پاچاهي یوازې د داود د کورنۍ حق دی.......................................................... ۵۲
څلرویشتم عمل....................................................................................................... ۵۲
یهود وایي: تر هغه چې مسیح راښکاره نه شي، جهاد نشته.................................................. ۵۲
پنځه ویشتم عمل.................................................................................................... ۵۳
یهودو به تر هغو لمونځ نه کاوه څو ستوري به ښکاره شوي نه وو ...................................... ۵۳
شپږویشتم عمل ..................................................................................................... ۵۵
یهودو به روژه ماتی (افطار) ځنډاوه................................................................................ ۵۵
اووه ویشتم عمل .................................................................................................... ۵۷
یهود یو تحریف کوونکي قوم وو................................................................................... ۵۷
اته ویشتم عمل....................................................................................................... ۶۲
مشرکان بربېتونه پرېږدي او ږیرې خریي........................................................................ ۶۲
دږیري او برېتو په اړه یو څو مسئلې................................................................................. ۶۳
نهه ویشتم عمل ..................................................................................................... ۶۳
یهودو به په داسې جامو کې لمونځ کاوه چې د عورت د ښکاره کېدو سبب کېده.................. ۶۳
دېرشم  عمل.......................................................................................................... ۶۵
یهود د جبرائیل علیه السلام سره دښمني لري..................................................................... ۶۵
یو دېرشم عمل....................................................................................................... ۶۶
نصارا له مهر پرته له خپلو ښځو سره مقاربت کوي........................................................... ۶۶
دوه دېرشم عمل..................................................................................................... ۶۸
له توحید څه ګرځېدل او د خوسکي (خوسي) عبادت شروع کول ......................................... ۶۸
دره دېرشم عمل...................................................................................................... ۶۹
یهودان د ځمکې په سر تر ټولو ناشکره طایفه ده ............................................................. ۶۹

ketabton.com - The Digital Library



ځلور دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۱
یهود یو بهانه ګیر قوم و، او په خپل دین کې به یې غلو (له حده زیاته مبالغه) او افراط کاو......... ۴۱
پنځه دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۲
د یهودو به چې کوم څه په تبیت برابر و هغه به یې ښکاره کول او کوم څه به یې چې په تبیت نه و جوړ هغه به یې پټول........................................................................................ ۴۲
شپږ دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۳
یهود دوه مخې او د نفاق صفت لرونکي وو............................................................. ۴۳
اووه دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۵
یهود جاهل قوم وو.................................................................................................. ۴۵
اته دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۵
یهودو به کله ناکله جعلي حدیثونه جوړول.............................................................. ۴۵
نهه دېرشم عمل...................................................................................................... ۴۶
یهودو خپل دین ټوټې ټوټې کړ ............................................................................... ۴۶
ځلوېښتم عمل......................................................................................................... ۴۸
د یهودو او نصاراوو د آذان ډول................................................................................ ۴۸
یو ځلوېښتم عمل .................................................................................................... ۸۰
کله به چې یهود بیت الله ته نږدې شول لاسونه به یې جګ کړل........................................ ۸۰
مأخذونه .................................................................................................................. ۸۱

ketabton.com - The Digital Library



## سريزه

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم ، امابعد: لکه څرنګه چې الله جل جلاله د رسول الله صل الله علیه وسلم امت یعني موږ او تاسو مسلمان ولسونه یو غوره امت ګرځولي یو په دې وجه چې موږ ایمان لرو او د نیکو کړنو ښوونه کوو او له بدو څخه خپل مسلمانان وروڼه منع کوو. چې همدا درې کارونه زموږ د غوراوي اسباب هم دي، نو ما هم د یهودو چې یو وخت الله جل جلاله همدغسې غوره امت ګرځولي وو خو بیا د خپلو شخصي غوښتنو یا خواهشاتو ښکار شول او لاروړکي او ګمراه شول د الله جل جلاله سپېڅلې لاره یې پرېښوده ځینې هغه عملونه او کړنې په خپله ښایسته پښتو ژبه راټول او ولیکل تر څو موږ او زموږ نور مسلمانان وروڼه د یهودو په شان د دغسې تېروتنو ښکار نه شي. ځکه ډېری هغه د یهودو اعمال چې هغوی یې له کبله ګمراه شوي دي او د الله جل جلاله لار یې پرېیښې ده په موږ کې هم څه ناخه دودو شوي او ځینې خو یې بلکل د دین په رنګ او نوم باندې ترسره کیږي. په داسې حال کې چې د دین زدکړه او د قرآن په الفاظو او معاناګانو باندې او د قران کریم به احکامو باندې د مسلمانانو پوهه یو فرض دی چې په ډېر افسوس سره موږ له دې چارې بلکل ځان ناخبره کړی دی او هیڅ هڅه مو نه دې کړې چې ځان ترې خبر او پوه کړو، خو زموږ دغه چاره به ډېره ناوړه اخروی پایله ولري، لکه رحمان بابا رح وایي : په هغه جهان به څنګه ځواب وکړې ، چې پر دې جهان عاجز یې له ځوابه. دا هم موږ ته یو الهي حکم دی چې د نامسلمانو ټولنو له دودونو کړنو او نامسلمانو وګړو سره له مشابهته او ورته والی څخه په کلکه ځانونه وژغورو، خو موږ او تاسو بلکې ټوله اسلامي نړۍ نن له یهودو او نصاراوو څخه متاثره ده او د هغوی اعمال او کړنې سرته رسوي، نو د دې لپاره چې موږ د هغوی له مشابهته ځانونه وژغورو لومړی باید موږ د هغوی عملونه وپېژنو کوم چې د هغوی د بربادۍ او ګمراهۍ لامل شوي دي، تر څو موږ داسې اعمال تر سره نه کړو او له دا ډول بربادي او خرابۍ څخه مو ځانونه ژغورلي وي. نو د هغوی د ځینو همداسې اعمالو د پېژندلو په پار مې همدا مالومات وژباړل او را ټول مې کړل تر څو زما او دو نورو مسلمانانو د بریا او سرلوړۍ لامل شي. له دې او داسې غیر اسلامي اعمالو ځان

ketabton.com - The Digital Library



خبرول د هر مسلمان نر او ښځې فريضه ده تر څو مو د الله جل جلاله او د هغه د رسول صل الله عليه وسلم نافرماني نه وي کړې او اخروي تاوان مو نه وي کړی، بلعکس مو د هغوی رضا او اخروي بريا تر لاسه کړې وي. الله جل جلاله دې زما دا ليکنه د ټولو مسلمانانو د فايدې وړ او سبب وګرځوي. په پای کې د دې کتاب چاپ او خپرولو اجازه هر مسلمان ته شته، څرنګه چې د رسول الله صل الله عليه وسلم غوښتنه ده او وايي: تاسي له مانه نورو خلکو ته (دين او د خير خبرې) ورسوئ که څه هم يو ايت وي.

مولوي فضل الرحمن عادل

ketabton.com - The Digital Library



## د يهوديت اصل او سرچينه:

د قرآن کريم د متن او د تاريخ د شهادت له مخې، په تيرو ۱۴ پيړيو کې د اسلام يو له سترو دښمنانو څخه يهوديان وو، او تر هغه چې دا د مقام غوښتنې (جاه طلبي) ارمانونه او نژادپرستي شتون ولري، دا دښمني به دوام ولري. شيخ صفوت الشودافي وايي: په دې کې شک نشته چې هر قوم او ډله خپل اصل او تاريخ لري، خو لکه څنګه چې يهوديان ړانده زړي دي، د دوی تاريخ هم په سمه توګه نه دی پيژندل شوی.

اسراييل په نقشه کې د نړۍ تر ټولو کوچنی هيواد دی، خو دا کوچنی هيواد پر لويو لويو هيوادونو باندې واکمني کوي.

امام فخرالدين رازي وايي: «چې دا خلک "يهود" بلل شوي څکه چې دوی د يعقوب عليه السلام د څلورم زوی سره تړاو لري، چې نوم يې "يهوذا" و، او "يهود" د "يهوذ" عربي بڼه ده او نقطه يې غورځول شوې ده». [1]

يهودا يا يهوذا په حقيقت کې د يوسف عليه السلام د ورور نوم دی، او يهوديان خپل هويت هغه ته منسوبوي. رابرټ هيوم په خپل کتاب "اديان زنده جهان" کې وايي، "دا کلمه د لومړي ځل لپاره د مسيح له زيږون څخه شاوخوا سل کاله دمخه په يوناني ـ يهودي ادب کې کارول شوې وه، او بله هيڅ داسې کلمه نشته چې د دې مذهب ټول تاريخ په څنګ کې ونسي."[2]

او ځينو ويلي دي: چې د "يهود" کلمه د "هدايت شوي" معنی لري او د دې لامل د خوسي (خوسکي) له عبادت کولو څخه د موسی عليه السلام د قوم توبه ده.[3]

په اصطلاحي مانا يهود هغه کسان دي چې ګمان کوي دوی د موسی عليه السلام پيروان دي.

او په قرآنکريم کې د دوی نومونه (تسميه) په قوم موسی، بني اسرائيل يعقوب عليه السلام ته په نسبت سره، او همدارنګه په اهل کتابو او يهودو سره شوې ده.

---

[1] [تفسير الرازي =مفاتيح الغيب، ۳/ ۵۳۶. دراسات في الاديان اليهودية والنصرانية: ص ۶۵]

[2] [اديان زنده جهان: ص: ۲۷۵]

[3] [تفسير الرازي=مفاتيح الغيب، ۳/ ۵۳۶]

ketabton.com - The Digital Library



خو دغه اخر نوم ياني يهود يوازي د بدی د ځايونو د يادولو په وخت کې ورته کارول شوی لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي:

﴿وَقَالَت اليَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغلُولَةٌ غُلَّتْ أيدِيهِمْ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْ بَلْ يَدَاهُ مَبسُوطَتَان﴾ المائدة آية (٦٤) . وقوله عز وجل: ﴿وَقَالَت اليَهُودُ وَالنَّصارَى نَحْنُ أَبْنَاؤ اللهِ وأَحِبَّاؤُه﴾ المائدة آية (١٨) . وقوله عز وجل: ﴿وَقَالَت اليَهُودُ عُزَيرُ ابن الله﴾ التوبة آية (٣٠) . وقوله عز وجل: ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيّاً وَلاَ نَصْرَانِيا﴾ آل عمران آية (٦٧) .

او دا په دې دلالت کوي چې دوی په دې نوم باندې هغه وخت نامدار شول چې حالت يې خراب او فاسد شو او د الله ﷻ له دين څخه واوښتل. والله اعلم[۴]

## ولې اسلام د يهوديانو او عيسويانو تقليد منع کوي؟

اسلا چې هر حکم ورکوي د انسان لپاره بشپړه ښېګڼه او خير پکې نغښتي وي. که اسلام ووايي چې دا او داسې عمل حرام دی، دا او داسې عمل کفر دی، او دا او داسې عمل د يهوديانو وغيره نامسلمانو سره ورته والی (مشابهت) دی، نو دا د انسان لپاره د ژوند راتنګولو په مانا نه دي، بلکې انسان د الله تعالی په وړاندې محبوب ګرځوي او هغه ته د برياليتوب او نجات لارې چارې برابروي.

اسلام وايي چې د يهودانو سره ځان مه برابروئ مشابهت مه ورسره کوئ ځکه چې دوی د الله تعالی له غضب سره مخ شوي دي، که نه نو تاسو به هم د هغو کسانو څخه شئ چې دوی ته الله ﷻ په غوسه او غضب شوی دی، ځکه چې مفسرين دا ايت:

﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّينَ﴾ يهود او نصارا بولي. [۵]

اسلام وايي چې يهوديان او عيسويان د الله تعالی له خوا لعنت شوي دي، نو که تاسو هم له دوی سره مشابهت وکړئ د دوی تقليد وکړئ، نو ممکن تاسي هم د الله تعالیﷻ له خوا په لعنت اخته شئ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

---

۴ [دراسات في الاديان اليهودية والنصرانية: ص ٦٥]

۵ [سُورَةُ الفَاتِحَة : ٧]

ketabton.com - The Digital Library



" لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ، وَلَا بِالنَّصَارَى... "[۶]

ژباړه: څوک چې له مونږ څخه پرته له نورو سره خپل ځان برابر کړي هغه له موږ څخه نه دی، مه له یهودو سره ځان برابروئ او مه هم له نصاراوو (عیسویانو) سره.

او پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایي:

" مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ". [۷]

ژباړه: "او څوک چې د یو قوم سره مشابهت کوي، هغه د هغوی څخه دی."

عبدالله بن مسعود وایي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایلي یې دي:

"من کثر سواد قوم فهو منهم، ومن رضي عمل قوم کان شریکا في عمله". "الدیلمي عن ابن مسعود". [۸]

ژباړه: چاچې د کوم قوم شمیر زیات کړ نو هغه د هغوی له ډلې څخه دی، او چاچې د کوم قوم عمل خوښ کړ خوښوونکی هم په دې عمل کې ورسره ګډ دی. [۹]

په یوه بل حدیث کې، چې شیخ الباني حسن بللی دی، د عمرو بن شعیب په حواله روایت شوی دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:

" لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا"[۱۰]

ژباړه: څوک چې د غیر مسلمانانو سره مشابهت کوي هغه زموږ څخه نه دی.

افسوس زموږ پر حال چې اوس یې پخپلو سترګو وینو چې زموږ او ستاسو نږدې پېژنده او مسلمانان ورونه د کفارو یهودو او نصاراو او هندوانو د دیني ورځو او مراسمو ستاینې کوي او وایي چې هندوان ډېر خوشحاله خلک دي ډېر ښایسته مراسم یې دي کله د

---

[۶] [جامع الترمذي، حدیث نمبر ۲۶۹۵]

[۷] [سنن أبي داود، حدیث نمبر ۴۰۳۱، مسند احمد، حدیث نمبر ۵۱۱۴]

[۸] [کنز العمال، ج۹/ص۲۲ روایت نمبر ۲۴۷۳۵]

[۹] [دا روایت د الدیلمي له خوا روایت شوی دی. یو عالم د دې سند په اړه وویل: موږ داسې څوک ونه موندل چې په واضح ډول د حدیث حکم بیان کړي، که هغه صحیح وي یا ضعیف، مګر حافظ ابن حجر رحمه الله په الدرایة کې د الهدایه په تخریج کې د دې په اړه چوپ پاتې شو او د دې لپاره یې شواهد وړاندې کړل، او السخاوي هم همداسې وکړل، چې دا په ګوته کوي چې حدیث اصل لري.]

[۱۰] [جامع الترمذي، ۲۶۹۵].

ketabton.com - The Digital Library



هندوانو د ديوالي (Diwali) کله د هولي (Holi) کله د نوراتري (Navratri) کله د جنماشتمي (Janmashtami) ستاينې کوي، ډېره د افسوس وړ خو لا داچې لمانځي يې.
موږ تاسو يې پخپلو سترګو وينو چې د نوروز، مهرجان، شب يلدا همدارنګه د کرسمس (Christmas) د لمانځلو يادونې کوي او لمانځي يې، دغه ټول د اور پرستو زرتشتيانو، لمرپرستانو او يهودو اخترونه او د خوشحاليو ورځې دي.
نو اسلامي رواياتو په کتو سره که څوک دغه عملونه خوښ کړي داسې حکم يې دی چې دغه خوښوونکی هم د هغوی د ډلې او رايې سړی دی.

## ايا دا اسلامي امت به هم کوم وخت د يهودو او عيسويانو لارې او طريقې خپلوي؟

هيڅ شک نشته چې خومره خلک له قرآن او حديث څخه لرې کيږي، هماغومره د کفر، شرک، او د هغو دينونو د پيروی ته نږدې کيږي چې يا منسوخ شوي دي او يا تحريف شوي دي.
علماوو په دې اړه ځانګړې ليکنې کړې دي آن لا په خپلو کتابونو کې يې په دې اړه ځانګړي بابونه او څپرکي راوړي: شيخ محمد فؤاد عبدالباقي رحمه الله په خپل مشهور کتاب "اللؤلؤ والمرجان" کې د (اتباع سنن اليهود والنصارى) تر عنوان لاندې بحث راوړی دی.
همدارنګه امام بغوي رحمه الله په خپل کتاب "شرح السنة للبغوي" کې د (بَابُ تَغَيُّرِ النَّاسِ وَذَهَابُ الصَّالِحِينَ) تر عنوان لاندې بشپړ باب راوړی دی
د محدثينو رحمهم الله د دغسې بابونو له راوړلو موخه دا ده چې خلک خبر کړي: کله چې امت د رسول الله ﷺ له احاديثو او سنتو څخه لرې شي، نو ورو ورو به د يهوديت، نصرانيت او نورو تحريف شوو دينونو په طريقو عمل پيل کړي.
له ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي رسول الله ﷺ فرمايي: " لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، شِبْرًا شِبْرًا، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ ". قُلْنَا : يَا رَسُولَ اللَّهِ، الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى ؟ قَالَ : " فَمَنْ ".[١١]

[١١] رواه البخاري (٣٤٥٦) ومسلم (٢٦٦٩)

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي: رسول الله ﷺ وفرمايل: «تاسو به خامخا د هغو خلکو لارې تعقيبوئ چې تر تاسو مخکې وو؛ لوېشت په لوېشت او ګز په ګز، تر دې چې که هغوی د سمسېرې (سوسمار) سوري ته ننوځي، تاسو به هم ورننوځئ.»

موږ وويل: اې د الله رسوله ﷺ! ايا مراد يهود او نصارى دي؟

هغه وفرمايل: «نو بيا څوک؟!»

د رسول الله ﷺ دا وينا: «فمن؟» يعنې: که يهود او نصارى نه وي، نو بيا څوک؟ مطلب دا دی چې: دا خلک معلوم دي، اشاره روښانه ده د پخوانيو امتونو څخه مراد همدا يهود او نصارى دي، رسول الله ﷺ دلته د پوښتنې له لارې تاکيد کوي، نه شک. لنډه دا چې د قرآن او سنت پرېښودل د فکري او عملي انحراف پيل دی، د يهودو او نصاراوو تقليد د امت د زوال نښه ده د محدثينو بابونه د امت لپاره خبرداری دی حديث يو ښکاره نبوي پيشګويي ده.

## لومړی عمل:

### يهودو د خپلو اولياوو او پيغمبرانو قبرونه مسجدونه ګرځولي و

يهودو د خپلو اولياوو او پيغمبرانو قبرونه د عبادت ځايونه (مسجدونه) جوړ کړي، عبادت پکې کوي، په افغانستان او نورو اسلامي هيوادونو کې تاسو په ډېرى سيمو کې ليدلي وي او يا که پسې وګرځئ وبه يې وينئ چې د نېکانو خلکو په قبرونو باندې يې مزارونه او زيارتونه جوړ کړي، او بيا يې مصلې او لمونځايونه پکې هوار کړي وي خلک راځي او لمنځونه پکې کوي، په ټوله سيمه کې تاسي د دې ډېرې بېلګې مندلی شئ، حال دا چې دا عمل د يهودو طريقه وه.

خو الحمد لله د اسلامي امارت د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو اورېدلو وزارت د علماوو او مفتيانو صاحبانو د يو ګډ هيئت پر مټ د نوي نسل د سالمې روزنې لپاره د هيواد په ملي ژبو "د اسلام اساسات" په نوم يو کتاب تأليف کړ او د دغو خلکو دغه کار يې د حنفي فقهې د معتبرو کتابونو په حواله بلکل ناروا او حرام وباله او د سوال او ځواب په بڼه يې وضاحت کړی دی او ليکلي يې دي:

ketabton.com - The Digital Library



**پوښتنه:** د قبرونو پخول او په هغوی باندې ګمبزې او ودانۍ جوړول څه حکم لري؟
**ځواب:** دا کارونه ناروا او حرام دي.[۱۲]
**پوښتنه:** داسې کاروه چې د یو شمېر خلکو په منځ کې رواج لري لکه قبر ته سجده کول، په هدیره کې د مړي په نوم مال حلالول، د مړي په نامه نذر کول، قبرونو باندې شمعې او څراغونه لګول، له قبر څخه طواف کول، ډېرې یې په ځان منبل، د قبر مالګه او یا خاوره خوړل، له مړي مرسته غوښتل، له قبر نه شفاء غوښتل او داسې نور د اسلامي هدایاتو په رڼا کې څه حکم لري؟
**ځواب:** دا کارونه په شریعت مطهره کې ناروا او منع دي.[۱۳]

---

[۱۲] عَنْ جَابِرٍ ، قَالَ : نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُجَصَّصَ الْقَبْرُ، وَأَنْ يُقْعَدَ عَلَيْهِ، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهِ. صحيح مسلم
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَأَنْ يَجْلِسَ أَحَدُكُمْ عَلَى جَمْرَةٍ، فَتُحْرِقَ ثِيَابَهُ، فَتَخْلُصَ إِلَى جِلْدِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَجْلِسَ عَلَى قَبْرٍ ". صحيح مسلم
وَيُكْرَهُ تَجْصِيصُ الْقَبْرِ وَتَطْيِينُهُ وَكَرِهَ أَبُو حَنِيفَةَ الْبِنَاءَ عَلَى الْقَبْرِ وَأَنْ يُعَلَّمَ بِعَلَامَةٍ، وَكَرِهَ أَبُو يُوسُفَ الْكِتَابَةَ عَلَيْهِ ذَكَرَهُ الْكَرْخِيُّ لِمَا رُوِيَ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَّهُ قَالَ: «لَا تُجَصِّصُوا الْقُبُورَ وَلَا تَبْنُوا عَلَيْهَا وَلَا تَقْعُدُوا وَلَا تَكْتُبُوا عَلَيْهَا» ؛ وَلِأَنَّ ذَلِكَ مِنْ بَابِ الزِّينَةِ وَلَا حَاجَةَ بِالْمَيِّتِ إلَيْهَا؛ وَلِأَنَّهُ تَضْيِيعُ الْمَالِ بِلَا فَائِدَةٍ فَكَانَ مَكْرُوهًا. وَيُكْرَهُ أَنْ يُزَادَ عَلَى تُرَابِ الْقَبْرِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ؛ لِأَنَّ الزِّيَادَةَ عَلَيْهِ بِمَنْزِلَةِ الْبِنَاءِ. (بدائع الصناع -۳۲۰-۱. )
[۱۳] ﴿وَجَعَلُوا لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْأَنْعَامِ نَصِيبًا فَقَالُوا هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعْمِهِمْ وَهَٰذَا لِشُرَكَائِنَا ۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَائِهِمْ ۗ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ.﴾ [سُورَةُ الأنعام : ۱۳۶]
وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ اللَّهِ ۖ [سُورَةُ البقرة : ۱۷۳]
-وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - زَائِرَاتِ الْقُبُورِ، وَالْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ» ، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ. مشكاة المصابيح
بَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ، (الفصل الثاني، ج: ۱، ص: ۲۳۰، رقم الحديث: ۷۴۰، ط: المكتب الاسلامي-بيروت. )
وَإِخْرَاجُ الشُّمُوعِ إلَى رَأْسِ الْقُبُورِ فِي اللَّيَالِي الْأُوَلِ بِدْعَةٌ كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ. الفتاوى الهنديه، الباب السادس عشر في زيارة القبور و قراءة القرآن في المقابر، ج: ۵ ص: ۳۵۱، ط: دارالفكر.
لا يجوز ما يفعله الجهال بقبور الأولياء والشهداء من السجود والطواف حولها واتخاذ السرج والمساجد عليها ومن الاجتماع بعد الحول كالاعياد ويسمونه عرسا. التفسير المظهري ج۲ ص۶۵.
أَكْلُ الطِّينِ مَكْرُوهٌ، هَكَذَا ذُكِرَ فِي فَتَاوَى أَبِي اللَّيْثِ - رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى. (الفتاوى الهنديه-۳۴۰-۵. )
الطِّينُ الَّذِي يُحْمَلُ مِنْ مَكَّةَ وَيُسَمَّى طِينَ حَمْزَةَ هَلْ الْكَرَاهِيَةُ فِيهِ كَالْكَرَاهِيَةِ فِي أَكْلِ الطِّينِ عَلَى مَا جَاءَ فِي الْحَدِيثِ؟ قَالَ: الْكَرَاهِيَةُ فِي الْجَمِيعِ مُتَّحِدَةٌ، كَذَا فِي جَوَاهِرِ الْفَتَاوَى. الفتاوى الهنديه -۳۴۰-۵.
وقال أبو موسى الحافظ الأصبهاني قال: الفقهاء الخراسانيون: لا يمسح القبر، ولا يقبله، ولا يمسه، فإن كل ذلك من عادة النصارى، قال: وما ذكروه صحيح. (البناية شرح الهداية-۲۶۱-۳. )

ketabton.com - The Digital Library



انهم يستعينون بغير الله في حوائجهم من شفاء المريض و غناء الفقير، و ينظرون لهم، يتوقعون إنجاح مقاصدهم بتلك النذور، و يتلون أسماءهم رجائ بركتها، فأوجب الله تعالى عليهم ان يقولوا في صلاتهم: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾[سُورَةُ الفَاتِحَة : ٥]، وقال تعالى: ﴿فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴾[سُورَةُ الجِنّ : ١٨]، وليس المراد من الدعاء العبادة، كما قاله المفسرون، بل هو الاستعانة لقوله تعالى: ﴿بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ﴾ [سُورَةُ الأنعَام : ٤١]، (علامه احمد بن عبدالرحيم المعروف به شاولي الله الدهلوي رحمه الله حجة الله البالغة: ج ١، ص ١٨٥).

وفي قوله تعالى: إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُباباً إلخ إشارة إلى ذم الغالين في أولياء الله تعالى حيث يستغيثون بهم في الشدة غافلين عن الله تعالى وينذرون لهم النذور والعقلاء منهم يقولون: إنهم وسائلنا إلى الله تعالى وإنما ننذر لله عز وجل ونجعل ثوابه للولي، ولا يخفى أنهم في دعواهم الأولى أشبه الناس بعبدة الأصنام القائلين إنما نعبدهم ليقربونا إلى الله زلفى، ودعواهم الثانية لا بأس بها لو لم يطلبوا منهم ذلك شفاء مريضهم أورد غائبهم أو نحو ذلك، والظاهر من حالهم الطلب، ويرشد إلى ذلك أنه لو قيل: أنذروا لله تعالى واجعلوا ثوابه لوالديكم فإنهم أحوج من أولئك الأولياء لم يفعلوا، ورأيت كثيرا منهم يسجد على أعتاب حجر قبور الأولياء ومنهم من يثبت التصرف لهم جميعا في قبورهم لكنهم متفاوتون فيه حسب تفاوت مراتبهم، والعلماء منهم يحصرون التصرف في القبور في أربعة أو خمسة وإذا طولبوا بالدليل قالوا: ثبت ذلك بالكشف قاتلهم الله تعالى ما أجهلهم وأكثر افترائهم، ومنهم من يزعم أنهم يخرجون من القبور ويتشكلون بأشكال مختلفة، وعلماؤهم يقولون: إنما تظهر أرواحهم متشكلة وتطوف حيث شاءت وربما تشكلت بصورة أسد أو غزال أو نحوه وكل ذلك باطل لا أصل له في الكتاب والسنة وكلام سلف الأمة، وقد أفسد هؤلاء على الناس دينهم وصاروا ضحكة لأهل الأديان المنسوخة في اليهود والنصارى، وكذا لأهل النحل والدهرية، نسأل الله تعالى العفو والعافية. (روح المعاني: ج ٢، ص ٢١٣-٢١٢.)

ومن أولئك عبدة القبور الناذرون لها المعتقدون للنفع والضر ممن الله تعالى أعلم بحاله فيها وهم اليوم أكثر من الدود. (روح المعاني: ص ٦٧/ج ١٧)

وَاعْلَمْ أَنَّ النَّذْرَ الَّذِي يَقَعُ لِلْأَمْوَاتِ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَّامِ وَمَا يُؤْخَذُ مِنْ الدَّرَاهِمِ وَالشَّمْعِ وَالزَّيْتِ وَنَحْوِهَا إلَى ضَرَائِحِ الْأَوْلِيَاءِ الْكِرَامِ تَقَرُّبًا إلَيْهِمْ فَهُوَ بِالْإِجْمَاعِ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ. (الدرالمختار، ص: ١٥٥، ردالمحتار: ٤٣٩/٢)

كَأَنْ يَقُولَ يَا سَيِّدِي فُلَانٌ إنْ رُدَّ غَائِبِي أَوْ عُوفِيَ مَرِيضِي أَوْ قُضِيَتْ حَاجَتِي فَلَكَ مِنْ الذَّهَبِ أَوْ الْفِضَّةِ أَوْ مِنْ الطَّعَامِ أَوْ الشَّمْعِ أَوْ الزَّيْتِ كَذَا بَحْرٌ (قَوْلُهُ بَاطِلٌ وَحَرَامٌ) لِوُجُوهٍ: مِنْهَا أَنَّهُ نَذَرَ لِمَخْلُوقٍ وَالنَّذْرُ لِلْمَخْلُوقِ لَا يَجُوزُ لِأَنَّهُ عِبَادَةٌ وَالْعِبَادَةُ لَا تَكُونُ لِمَخْلُوقٍ. وَمِنْهَا أَنَّ الْمَنْذُورَ لَهُ مَيِّتٌ وَالْمَيِّتُ لَا يَمْلِكُ.

وَمِنْهُ أَنَّهُ إنْ ظَنَّ أَنَّ الْمَيِّتَ يَتَصَرَّفُ فِي الْأُمُورِ دُونَ اللَّهِ تَعَالَى وَاعْتِقَادُهُ ذَلِكَ كُفْرٌ. (ردالمحتار المعروف به الفتاوى الشامي: ج ٢/ص ٤٣٩. )

واعلم أن النذر الذي يقع للأموات من أكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها إلى ضرائح الأولياء الكرام تقربا إليهم فهو باطل وحرام اهـ قال في البحر لوجوه منها أنه نذر لمخلوق ولا يجوز لأنه عبادة والعبادة لا تكون لمخلوق ومنها أن المنذور له ميت والميت لا يملك ومنها أنه إن ظن أن الميت يتصرف في الأمور دون الله تعالى كفر. (حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح: ص ٣٧٨/ البحر الرائق لابن نجيم: ٢٩٨/الفتاوى الهنديه: ٢١٦).

وَالنَّذْرُ الَّذِي يَقَعُ مِنْ أَكْثَرِ الْعَوَامّ بِأَنْ يَأْتِيَ إلَى قَبْرِ بَعْضِ الصُّلَحَاءِ وَيَرْفَعَ سِتْرَهُ قَائِلاً يَا سَيِّدِي فُلَانٌ إنْ قَضَيْت حَاجَتِي فَلَكَ مِنِّي مِنْ الذَّهَبِ مَثَلًا كَذَا بَاطِلٌ إجْمَاعًا. (الفتاوى الهمنديه المعروف به الفتاوى العالمگري: ٢١٦-١. )

[د اسلام اساسات، ص ٤٢]

ketabton.com - The Digital Library



همدغه خلک څوک چې د زيارت جوړولو او زيارتونو ته په تقديس قائل دي دوی د عکس د چاپ کولو پر جواز هم قائل دي او د دوی پيروان يې انځورونه په کورونو او موټرونو کې د تبرک او مينې په پار ساتي.

آن لا دوی د انځورونو درناوی هم کوي.

له بده مرغه دا يوازې يو مثال و؛ په ترکيه، سوډان، افغانستان، هند، عراق او نورو هېوادونو کې ډېر داسې مسجدونه شته چې پر قبرونو جوړ شوي دي.

**د يهودو په اړه د رسول الله ﷺ ښېراء (لعنت):**

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال:

«قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»[۱۴]

ژباړه: حضرت ابو هريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «الله دې يهود هلاک کړي، ځکه چې هغوی د خپلو پېغمبرانو قبرونه مسجدونه وګرځول.»

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي:

«أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ، إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ»[۱۵]

ژباړه: «خبر اوسئ! له تاسو څخه مخکيني خلکو به د خپلو پېغمبرانو او صالحانو قبرونه مسجدونه ګرځول. خبر اوسئ! تاسې قبرونه مسجدونه مه ګرځوئ، بېشکه زه تاسو له دې کاره منعه کوم.»..

د حضرت عايشې رضي الله عنها اوږد روايت دی:

«لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ ﷺ ذَكَرَتْ بَعْضُ نِسَائِهِ كَنِيسَةً رَأَتْهَا بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ، يُقَالُ لَهَا: مَارِيَةُ، وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَأُمُّ حَبِيبَةَ رضي الله عنهما أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ، فَذَكَرْنَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ﷺ وَقَالَ: «أُولَئِكَ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللَّهِ»[۱۶]

---

[۱۴] متفق عليه

[۱۵] رواه مسلم

[۱۶] متفق عليه

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: کله چې رسول الله ﷺ ناروغ شو، د هغه له مېرمنو يوې د حبشې د يوې کليسا يادونه وکړه چې نوم يې «ماريه» و. ام سلمه او ام حبيبه رضي الله عنهما هغه کسانې وې چې حبشې ته تللي وې. هغوی د هغې کليسا د ښکلا او انځورونو يادونه وکړه. نو رسول الله ﷺ خپل سر راپورته کړ او وفرمايل: «دا هغه خلک دي چې کله به په دوی کې يو صالح کس مړ شو، نو د هغه پر قبر به يې مسجد جوړ کړ، بيا به يې په هغه مسجد کې انځورونه جوړول. همدوی د الله ﷻ په نزد تر ټولو بد مخلوق دي.»

د وفات په ناروغۍ کې وروستی خبرداری: قال رسول الله ﷺ في مرض موته:

«لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»[۱۷]

ژباړه: رسول الله ﷺ د خپلې وروستۍ ناروغۍ پر مهال وفرمايل: «د الله لعنت دې پر يهودو او نصاراوو وي، هغوی د خپلو پيغمبرانو قبرونه مسجدونه وګرځول.»

د ابن مسعود رضي الله عنه روايت: عن ابن مسعود رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال: «مِنْ شِرَارِ النَّاسِ مَنْ تُدْرِكُهُمُ السَّاعَةُ وَهُمْ أَحْيَاءٌ، وَمَنْ يَتَّخِذُ الْقُبُورَ مَسَاجِدَ»[۱۸]

ژباړه: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «تر ټولو بد خلک هغه دي چې قيامت پرې راشي په داسې حال کې چې ژوندي وي، او هغه کسان چې قبرونه مسجدونه ګرځوي.»

د صحابه وو عملي منهج (تګلاره): صحابه کرامو رضي الله عنهم په پوره دقت د رسول الله ﷺ پر طريقې عمل کاوه. د هغوی قبرونه وګورئ، ټول د نبوي لارښوونو مطابق ساده، بې نمانځنې او بې عبادته، هغوی يو وېښته هم د رسول الله ﷺ له تګلارې او کړنلارې بدل عمل او کردار نه دی کړی.

خو زموږ د زمانې ډېری خلکو د رسول الله ﷺ لار پرې ښې ده نه يې تعقيبوي، بلکې د شهرت، رياکارۍ او نومونو پسې روان دي، آن تر دې چې غواړي له مرګ وروسته هم مشهور پاتې شي.

نو آې مسلمانانو! په دا ډول عمل کولو سره دغو پورتنيو احاديثو ته څه ځواب لرئ!؟

---

[۱۷] متفق عليه

[۱۸] رواه أحمد

ketabton.com - The Digital Library



## دوهم عمل

### یهود یو مکار، حیله‌ګر او فریب کار قوم و

د یهودو له څرګندو ځانګړنو څخه یوه حیله او مکر و. هغوی به په هر کار کې چل او فریب کاوه؛ که شریعت به پر هغوی کوم شی حرام کړی و، نو هغوی به په حیله او چل سره هماغه شی د ځان لپاره بېرته حلالاوه.

الف: د ماهي نیولو حیله: د شنبې په ورځ پر هغوی د ماهي ښکار کول حرام شوي وو؛ نو هغوی حیله وکړه: د شنبې په ورځ به یې جالونه اېښودل، او د یکشنبې په ورځ به یې ماهیان رااېستل.

همدا لامل دی چې الله ﷻ د هغوی په اړه په قرآن کې فرمايي:

﴿وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ﴾[19]

ژباړه: او تاسي ته خو د خپل قوم د هغو کسانو سرګذشت پوره څرګند دی، چې هغو د شنبې په ورځ تېری کړی ؤ، موږ هغو ته وویل: " بیزوګاني شئ؛ او په داسي حال کښې اوسئ چې له هري خوا در باندې ذلت، نفرین او لعنت وي!"

تفسیر: د بني اسرائیلو دخېرې بدلیدو عذاب: بني اسرائیلو ته په تورات کې حکم شوی و چې د شنبې ورځ عبادت ته مقرره ده، په دې ورځ کې د ماهي (کب ) ښکار مه کوئ! دې خلکو په چل اوفریب سره دشنبې په ورځ هم ښکار کاوه، نو الله تعالی(ج) دوی مسخ کړل اودهغوی صورتونه یې دبېزوګانو په شان واړول ، په دوی کې که څه هم انساني پوهه او شعور و اویوه بل ته یې کتل، مګر خبرې یې نه شوای سره کولی او ژړل به یې، له درې ورځو وروسته ټول مړه شول، دا واقعه د داود(علیه السلام) په زمانه کې شوې وه.[20]

د حرامو شیانو د خرڅلاو د حیلې په اړه صحیح حدیث:

«إِنَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ وَالْمَيْتَةِ وَالْخِنْزِيرِ وَالْأَصْنَامِ ". فَقِيلَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ ؛ فَإِنَّهَا يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ.

[19] [سُورَةُ البَقَرَة : ٦٥]
[20] [کابلی تفسیر]

ketabton.com - The Digital Library



فَقَالَ : " لَا، هُوَ حَرَامٌ ". ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ : " قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ ؛ إِنَّ اللَّهَ لَمَّا حَرَّمَ شُحُومَهَا جَمَلُوهُ ثُمَّ بَاعُوهُ فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ.»[٢١]

ژباړه: الله او د هغه رسول ﷺ د شرابو، مردارو حیواناتو، خوګ او بتانو خرڅلاو حرام کړی دی. خلکو وویل: اې د الله رسوله! د مردار حیوان چربي (وازګه) څه حکم لري؟ ځکه خلک ترې د بېړیو لرګي غوړوي، پوستونه نرموي او د څراغونو لپاره یې کاروي.

رسول الله ﷺ وفرمایل: «نه، دا هم حرام دي.»

بیا یې وفرمایل: «الله دې یهود هلاک کړي! کله چې الله پر هغوی چربي حرامه کړه، هغوی هغه ویلې (ذوب یې کړه)، بیا یې وپلورله او بیه یې وخوړه.»

**د یهودو عملي حیله؛** پر یهودو چربي حرامه شوې وه، خو هغوی حیله وکړه، هغه یې په بازار کې ویلې (اوبه کړه) او بیا یې وپلورله.

امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح البخاري کې د "باب في ترك الحیل" په نوم باب راوړی، یاني د حیلو په پرېښودلو کې باب، امام بخاري رحمه الله دا باب په صحیح البخاري کې د دې لپاره راوړی چې وښیي حیلې شرعاً باطلې دي.

د دوکې او فریب په اړه د رسول الله ﷺ سخت درېځ: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةٍ مِنْ طَعَامٍ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ : " يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ، مَا هَذَا ؟ ". قَالَ : أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ : " أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ "، ثُمَّ قَالَ : " مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا»[٢٢]

ژباړه: رسول الله ﷺ د غنمو له یوې انبارې څخه تېرېدو. خپل لاس یې ورننه ایست، نو ګوتې یې لمدې شوې. ویې فرمایل: «اې د خوراک خاونده! دا (لندوالی) څه دی؟ هغه وویل: اې د الله رسوله! باران پرې لګېدلی دی. رسول الله ﷺ وفرمایل: «نو ولې دې (دا لمده برخه) د پاسه نه ده ایښې، تر څو خلک یې ووینې؟!» بیا یې وفرمایل: «څوک چې دوکه کوي، هغه له موږ (مسلمانانو) څخه نه دی.»

---

[٢١] متفق عليه

[٢٢] صحيح الترمذي (١٣١٥)

ketabton.com - The Digital Library



د امام ابن القيم رحمه الله وينا ده: «وقد شاهد الناس عيانًا أنه من عاش بالمكر؛ مات بالفقر!»[23]

ژباړه: خلکو په خپلو سترګو ليدلي هر چا په مکر او حيله ژوند کړی دی، هغه په فقر کې مړ شوی دی.

هر څوک چې په مکر او حيله، په غلا، په سود خوړلو، په رشوت او، خلکو په دوکه ژوند کړي وي، نو هغه ټول مال له لاسه ورکوي، او په پای کې په هماغه فقر مري چې ترې وېرېده.

هر څوک چې حيله کوي الله ﷻ يې په بد ترين عذاب اخته کوي لکه: «الجزاء من جنس العمل» (جزاء د عمل له جنس څخه وي). لکه موږ او تاسو چې په پښتو کې متل کوو: « چې څه کرې هغه به رېبې!».

له همدې امله: بني اسرائيل د خپلو حيلو په سزا کې بيزوګان وګرځول شول، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ﴾[24]

ژباړه: موږ هغو ته وويل: " بيزوګاني شئ؛ او په داسي حال کښې اوسئ چې له هري خوا در باندې ذلت، نفرين او لعنت وي!"

له بده مرغه، نن ورځ موږ هم ځيني داسي مسلمانان لرو چې: د دنيا او شتمنۍ په تمه کې دومره غرق دي چې د څو پيسو لپاره د الله ﷻ حقوق هم تر پښتو لاندې کوي او د بندګانو حقوق هم تر پښو لاندې کوي، د ژوند په ډېرو چارو کې مکر او چل کوي او د خپلې يوازينۍ دنياوي ګټې پسې دي.

ډېرى خلک دي؛ د دې لپاره چې زکات وربانديې لازم نه شي نو د کال د پوره کېدلو په موکه (موقع) خپل مال کوم چاته هبه کړي ور ويې ببني تر څو نوموړى د نصاب څښتن پاته نه شي او زکات وربانديې لازم نه شي.

ډېرى خلک بيا دا کار د دې لپاره هم کوي چې د زکات په مصرف کې داخل شي تر څو له نورو خلکو زکاتونه تر لاسه کړي.

---

[23] إغاثة اللهفان (١ / ٣٥٨)

[24] (البقرة: ٦٥)

ketabton.com - The Digital Library



ډېرى خلک د خواهشاتو د پوره کولو په خاط غواړي خپلې مېرمنې ته طلاق ورکړي، نو په حيله (چل او دوکه) او ظلم سره خپله پخوانۍ مېرمن دېته اړه کړي چې خلع ورسره وکړي او پيسې يې لاسته ورشي.
په نکاح کې مهر ټاکي، خو د حيلو او چلونو له لارې ناوې ته مهر نه ورکوي.
د ناوې کورنۍ پلار او ورونه له زوم څخه د مهر په نامه په چلونو او حيلو سره په لکونو افغانۍ ولور اخلي.
په قرابت او معاملاتو کې همدارنګه د دې لپاره چې خور ترور وغيره خورلنې ترېنه د ميراث حق وېنسي (يونسي) حيله کوي.
دا يو څو مثالونه و، دېته ورته بېشمېره چلونه او حيلې کېږي دا د يهودو طريقه ده، خو موږ يې کوو او ځانونو ته پاک مسلمانان وايو.
**يادونه:** د جمورو علماو په نزد په هغو احکامو کې چې له ګناه څخه وتلي وي د الله ﷻ او بنده حق نه پکې خوړل کېږي د حرامو د حلالولو لامل نه ګرځي بلکې له حرامو د ځان ساتلو په پار حيله کول جائز دي.
د قرآن کريم د دې ايت په دليل سره:
﴿وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِ وَلَا تَحْنَثْ ۗ إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ﴾[٢٥]
ژباړه: (او موږ هغه ته وويل) "جارو را واخله او (خپله ښځه) په ووهه، او خپل قسم مه ماتوه." په باوري توګه، موږ هغه د زغم خاوند، ډېر ښه بنده او د خپل رب خوا ته ډېر رجوع کوونکی وموندی.
دا حيله الله ﷻ ايوب (عليه السلام) ته ورښوولې وه تر څو يې قسم پوره شي، ځکه هغه قسم کړی و او خپلې مېرمنې ته يې ويلي و چې زه به تا سل لښتې يا سل لرګيه وهم، دا قسم يې هغه وخت کړی و چې مېرمنې يې ورته ويلي چې که ته د شيطان په نوم يوه وری يا سېرلکۍ حلاله کړې.... اوږده کيسه ده په تفسيرونو کې شته.

---

[٢٥] [سُورَةُ صٓ : ٤٤]

ketabton.com - The Digital Library



په دې اړه نور دلایل هم شته له قرآن او سنتو، لکه د یوسف علیه السلام د پیمانې واقعه وغیره. والله اعلم. [۲۶]

**د مړي د اسقاط حیله:** په دې اړه هم مختلیف نظرونه موجود دي: په احسن الفتاوي کې یې لیکلي لنډیز یې دا دی چې د دې حیلې د شرائطو د نه په ځای کولو له امله او د دې داسې لازم ګڼل لکه د واجبو دا مروجه دوره اسقاط بدعت او ناجائز ده. [۲۷]

همدارنګه مولانا رفعت قاسمي صاحب په خپل کتاب "مسائل رفعت قاسمي" کې په دې اړه ۶ مخه بیان لیکلی دی چې لنډیز یې دا دی: د حیله اسقاط شرائط نه په ځای کول او دا کار لازم او ضروري ګڼل (احداث في الدین) دی، په شرعي اصطلاح بدعت دی، او د داسې ټولو مشکلاتو په درلودلو سره د دې فائده خو یواري مړي ته نه رسیږي بلکې کوونکي یې په ډېرو ګناهونو کې مبتلا کیږي. [۲۸]

البته په دې وروستیو کې **د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان** په راتللو سره د دې موضوع په اړه هم وضاحت وړاندې شو د دې فرما په دوهمه ماده لسمه صفحه کې د حیله اسقاط په اړه څرګندونه شوې او ویل شوي چې: د حیلې طریقه به د حنفي فقهې د هغو شرطونو مطابق وي چي یادونه یې شوې ده. د معلوماتو لپاره دې نوموړی فرمان مطالعه کړل شي. [۲۹]

**د ظلم په اړه غلط فهمي:** د افغانستان خلک فکر کوي چې د قرآن هغه آیتونه چې د ظلم او جبر په اړه دي، یوازې د یهودو لپاره دي؛ حال دا چې نه پوهیږي ظلم د یهودو له صفاتو څخه و، خو هر څوک چې ظلم وکړي، په حکم کې ورسره شریک دی.

---

[۲۶] [المخارج في الحیل من الأصل لمحمد الحسن، ط-الثقافة الدینیة: ص۹۳.]

[۲۷] [احسن الفتاوي، تألیف: فقیه العصر مفتي اعظم حضرت رشید احمد صاحب (رح)، ژباړن: مولوي محمد هارون صاحب، چاپ: ۲۰۱۲، ناشر: مکتبه فریدیه محله جنګي قصه خواني پېښور: ج۱/ص۳۱۹ - ۳۲۰]

[۲۸] [مسائل رفعت قاسمي، تألیف: حضرت مولانا رفعت قاسمي استاد دارالعلوم دیوبند، ناشر: جدید مکتبه رشیدیه محله جنګي قصه خواني پېښور: ج ۲/ص۳۴۲ - ۳۴۷]

[۲۹] [د خېښـې، ودونـو، مصیـبتونو او همـدا راز له حـج او عمـرې څخـه د راسـتنېدو پر مهـال د ناسـمو رواجـونو د مخـنیوي په هکـله د عـالیقدر امیـرالمؤمنین حفـظه الله تعـالی فرمان: ص ۱۰]

ketabton.com - The Digital Library



**استثنا**: له کفارو سره په جګړه کې حیله نه یوازې دا چې جائز ده بلکې دا د رسول الله ﷺ کړنلاره وه لکه څرنګه چې یې فرمایلي دي: «الْحَرْبُ خُدْعَةٌ»[30]

ژباړه: جګړه له تدبیر، فریب او تاکتیک څخه جوړه ده. او په چل او تکتیک سره باید هغوی ته ماتې ورکړل سي.

امام نووي رحمه الله وایي: علماوو اتفاق کړی چې له کفارو سره په جګړه کې فریب او تاکتیک هر ډول روا دی، تر هغه چې پکې د تړون یا امان ماتول نه وي؛ که تړون ماتیږي، نو بیا دا کار روا نه دی.[31]

## دریم عمل

### یهودان له سلام کولو او آمین ویلو ډېر بد وړي

یهودان له سلام کولو او آمین ویلو ډېر بد وړي او رسول الله ﷺ به تل خپلو صحابه وو ته په دې دوو شیانو حکم کاوو.

لکه څرنګه چې په صحیح حدیث کې راغلي دي:

" مَا حَسَدَتْكُمُ الْيَهُودُ عَلَى شَيْءٍ، مَا حَسَدَتْكُمْ عَلَى السَّلَامِ وَالتَّأْمِينِ ".[32]

ژباړه: له ام المؤمنین حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې پیغمبر ﷺ وفرمایل: یهود په هیڅ بل شي له تاسي سره دومره حسد (کینه) نه کوي لکه په سلام کولو او آمین ویلو چې له تاسو سره حسد کوي.

موږ ټول یو پر بل سلام کوو او د رسول الله ﷺ سنت یې بولو! دغه سلام څه شی دی او ولې یې مونږ کوو!؟

سلام دعا ده، سلام د امن، سلامتۍ او خیر غوښتنه ده، سلام د مخامخ کېدونکي مسلمان عزت او درنښت دی، سلام د جنتیانو وینا ده، د سلام ځواب ورکول د مسلمان حق دی.

رسول الله ﷺ فرمایلي:

[30] [بخاري (۳۰۲۹)، مسلم (۵۸)]

[31] [شرح النووي علي مسلم: ج ۱۲/ ص۴۵]

[32] [سنن ابن ماجه، د حدیث شمېره: ۸۵٦]

ketabton.com - The Digital Library



«لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ "»[٣٣]

ژباړه: تاسو به جنت ته داخل نه شئ تر څو ايمان رانه وړئ، او ايمان به مو پوره نه شي تر څو يو له بل سره مينه ونه لرئ. ايا تاسو ته داسې کار ونه ښيم چې که يې وکړئ، يو له بل سره به مينه پيدا کړئ؟ په خپلو منځونو کې سلام خپور کړئ.

سلام د مسلمانانو تر منځ د ايمان اړيکه او د مينې سرچينه ده او د جنتيانو دستور دی.

**يادونه**: آمين ويل د درېو امامانو په نزد سنت دی او مالکيان يې مندوب (مستحب) بولي، د شوافعو او حنابله و په نزد په جهري لمنځونو کې په جهر او په سري لمنځونو کې په پټه آمين ويل سنت دي. د امام ابوحنيفه (رح) په مذهب کې به لمانځه کې (آمين) په پټه ويل سنت دي.[٣٤]

د دې مانا دا نه ده چې نعوذ بالله موږ د يهودو د غوښتنې سره سم عمل کوو لکه ځينې ناخبره چې دا ويناوې کوي، بلکې دا په قوي دلايلو ثابت عمل دی چې تاسو يې په کتابونو کې لوستلی شئ!

**په دې اړه څو دلايل:**

**لومړی دليل:** عن علقمةَ بن وائلٍ، عن أبيه: أن النبيَّ صلى الله عليه وسلم قَرَأَ: «﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ فقال: "آمِينَ"، وخَفَضَ به صوتَهُ»[٣٥]

ژباړه: له علقمه بن وائل څخه، د خپل پلار له لارې روايت دی چې نبي کريم ﷺ دا آيت تلاوت کړ: ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ بيا يې وويل: «آمِين»، او خپل غږ يې ټيټ کړ (يعنې په پټه يې وويل).

يعنې: رسول الله ﷺ به د «ولا الضالين» له ويلو وروسته «آمين» په پټه ويله.

---

[٣٣] [صحيح مسلم]

[٣٤] [الفقه علي المذاهب الاربعة: ج١/ ص٢٢٦]

[٣٥] [سنن الترمذي، ط-الرسالة: ج١/ص٣٠٩، سنن الدارقطني: ج٢/ ص١٢٨]

ketabton.com - The Digital Library



**دوهم دلیل:** «وقال أبو وائل:"كان علي وعبد الله رضي الله عنهما لا يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم، ولا بالتعوذ، ولا بآمين".»[٣٦]

ژباړه: ابو وائل رحمه الله وايي: حضرت علي او حضرت عبدالله رضي الله عنهما به بسم الله الرحمن الرحيم، تعوذ، او آمين په لوړ غږ نه ويل.

**دريم دليل:** د امام ابو حنيفه رحمه الله قول:

«مُحَمَّدٌ، قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو حَنِيفَةَ، عَنْ حَمَّاد، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: " أَرْبَعٌ يُخَافِتُ بِهِنَّ الْإِمَامُ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِك، وَالتَّعَوُّذُ مِنَ الشَّيْطَانِ، وَبِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، و آمِينَ " قَالَ مُحَمَّدٌ: وَبِهِ نَأْخُذُ، وَهُوَ قَوْلُ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ»[٣٧]

ژباړه: محمد بن الحسن رحمه الله وايي: امام ابو حنيفه رحمه الله له حماد څخه، هغه له ابراهيم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل: امام به څلور شيان په پټه وايي: سبحانك اللهم وبحمدك، تعوذ (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم)، بسم الله الرحمن الرحيم، آمين. محمد رحمه الله وايي: موږ همدا قول اخلو، او دا د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب دی.

## څلورم عمل

### يهود يو حسد کوونکی قوم و

د بعثت څخه مخکې د يهودو حالت: د رسول الله ﷺ له بعثته مخکې يهود د داسې پيغمبر د راښکاره کېدو په انتظار کې وو، چې غوښتل يې د هغه تر سيوري لاندې خپله راتلونکې تولنيزه مشري او سيادت ثابت کړي.

له همدې امله به يې کفارو ته ويل: ډېر ژر به يو وروستی پيغمبر راشي، موږ به پرې ايمان راوړو او ستاسې پر وړاندې به بريالي شو.

خو کله چې هماغه پيغمبر راولېږل شو، نو دوی د رسول الله ﷺ له بلنې څخه انکار وکړ، او پلمې او بهانې يې پيل کړې. لکه څرنګه چې قرآن کريم په دې ځای کې فرمايي:

---

[٣٦] [شرح مختصر الطحاوي للجصاص: ج١/ ص٥٨٨ ]
[٣٧] [الآثار لمحمد بن الحسن: ج١/ ص١٦٢ ]

ketabton.com - The Digital Library



﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوا مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَمَّا جَآءَهُم مَّا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ ۚ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَٰفِرِينَ﴾[38]

ژباړه: او اوس چي يو کتاب دوی ته د الله له لوري راغلی دی، دوی له هغه سره څه را اخیستي دي؟ ـ سره له دې چي دا کتاب د هغه کتاب تصديق کوونکی دی چي له پخوا څخه له دوی سره موجود ؤ، او سره له دې چي ددې کتاب له راتګ څخه مخکي دوی په خپله د کفارو په مقابله کښي د بري او مرستي دعاګاني کولې؛ خو کله چي هغه کتاب راغی چي ويې پېژانده هم، نو د هغه له منلو يې انکار وکړ. نو پر دې منکرانو دې د خدای لعنت وي.

په دې آيت کې الله ﷻ د یهودو د سرسختۍ، حسد او نفس‌پرستۍ يو بل انځور بیانوي: یهود د تورات د زېریو پر بنسټ د يوه پیغمبر د ظهور په تمه وو، يو بل ته به يې د بریا زېری ورکاوه، حتی د مدينې ته د دوی د کډه کېدو يو لوی لامل دا و چي دوی پوهېدل هماغه ښار د وروستي پیغمبر ﷺ د هجرت ځای دی، له همدې امله يې له مخکي هلته استوګنه غوره کړې وه

خو کله چي رسول الله ﷺ راښکاره شو او هغوی د هغه نښې له تورات سره سمې وموندلې، بیا هم د حسد له امله ایمان يې رانهٔ وړ، ځکه چي هغه پیغمبر د بنی‌اسرائیلو پر ځای له بني اسماعیل څخه و.

یهودو حق پېژانده، خو حسد يې ایمان ته پرېنښودل، د حق انکار يې د علم له نشتوالي نه، بلکي د زړه له ناروغۍ (حسد) څخه و، قرآن دا حالت د سخت لعنت وړ بللی دی.
حسد (کینه) له الله ﷻ سره د دښمنۍ په مانا دی، حسد هغه معنوي ناروغي ته چي الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته حکم کړی دی چي د حسد کوونکي له شره پنا وغواړه، حسد هغه ناوړه او بد ترین صفت دی چي ابلیس يې هلاک کړ، او که بل هرڅوک په دې ناوړه معنوي ناروغي اخته وي، نو خدای مکړه چي انجام به يې همداسې وي.
**حسد دمؤمن صفت نه دی:** «وَلَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ الْإِيمَانُ وَالْحَسَدُ.»[39]

---

[38] [سُورَةُ البَقَرَة : ٨٩]
[39] [سنن النسائي حديث شمېره: ٣١٠٩ ]

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنده په زړه کې ايمان او حسد نه سره يوځای کيږي.

ياني: دا ناوړه کار د مؤمن له شان سره مناسب کار نه دی.

د جامع الترمذي حديث دی:

«دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمْ ؛ الْحَسَدُ وَالْبَغْضَاءُ، هِيَ الْحَالِقَةُ، لَا أَقُولُ : تَحْلِقُ الشَّعَرَ. وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ». [۴۰]

ژباړه: تاسي ته هم د پخوانيو امتونو ناروغي (پټه) سرايت کړی دی چې؛ هغه حسد (پټه د زړه دښمني) او بغض (په ښکاره د زړه دښمنی) دي. دا دواړه خرېيونکې (کلوونکې) دي، دا نه وايم: چې وېښتان خرېيي. بلکې دين خرېيي.

فقيه ابوالليث سمرقندي (رح) فرمايي: چې د حسد نه خطرناک بل څيز نشته ځکه محسود ته د څه تکليف رسيدلو نه مخکې پخپله حاسد ته پنځه( ۵) سزاګاني رسيږي:

**لومړی:** حسد کوونکی په داسې غم کې مبتلاء کيږي چې بيا نه ختميږي.

**دويم:** په داسې مصيبت کې آخته کيږي چې هيڅ آجر ورته پرې نه ترلاسه کيږي.

**دريم:** د داسې مذمت (بدی) مستحق کيږي چې هيڅوک په دې سره دده صفت نه کوي.

**څلورم:** الله ﷻ ورنه ناراضه‌وي.

**پنځم:** په ده باندې د توفيق دروازې بندې شي.

نو حسد يو بربادوونکې ناروغي ده، چې په هر مسلمان فرض ده چې ځان ترينه په کلکه وساتي. کنه نو بيا به مو هم دنيا برباد وي او هم آخرت.

## پنځم عمل

### يهودو خپل پيغمبر حتی د جګړې پر مهال يوازې پرېښود

دا سرکښ او سپين سترګی قوم، سره له دې ټولو سرسختيو د حضرت موسی عليه السلام د حکم له مخې د سپېڅلې خاورې (فلسطين) پر لور وخوځېد، تر څو هغه هم د شرک او بت‌پرستۍ له ناپاکۍ پاکه کړي؛ خو کله چې د حضرت موسی عليه السلام په

[۴۰] [جامع الترمذي، حديث شمېره: ۲۵۱۰]

ketabton.com - The Digital Library



امر باید د دښمن پر وړاندې جګړې ته چمتو شوي وای، نو انکار يې وکړ. قرآن په دې اړه وايي: ﴿قَالُوا يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُوا فِيهَا ۖ فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ﴾[41]

ژباړه: هغوی بیا همدا وویل چې: "اې موسی! موږ به هلته هیڅکله ور نه شو تر څو چې هغوی هلته وي. ته او ستا رب، دواړه لاړ شئ او وجنګیږئ، موږ دلته ناست یوو."

دا آیت د بني اسرائیلو د بزدلۍ، نافرمانۍ او د خپل پیغمبر د یوازې پرېښودلو روښانه انځور وړاندې کوي.

هغوی د الهي امر مخالفت وکړ، خپل پیغمبر يې یوازې پرېښود، د جهاد او اطاعت پر ځای يې راحت غوره کړ.

نو هر څوک چې د خپل مشر (امیر) نافرماني وکړي او هغه یوازې پرېږدي، نو د ده او د یهودو ترمنځ هېڅ توپیر نشته.

دبدر په غزاکې د خالي لاسو او وړو مسلمانانو په مقابله د یوزر ۱۰۰۰ با وسله ځوانانو لښکر راغی او مقابل سو، نو نبی کریم ﷺ چې دا حالت ولید خپل رب ته يې دعاګانې پیل کړې، نو حضرت مقداد بن اسود رضي الله عنه صحابي ورته را وړاندې سو او وړاندیز يې وکړ (ویې ویل): یا رسول الله په خدای قسم دی مونږ به هیڅکله هغه خبره و نه کړو کومه چې د حضرت موسی علیه السلام قوم حضرت موسی علیه السلام ته کړې وه چې؛ ﴿فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ﴾ یاني: ته او ستا رب، دواړه لاړ شئ او وجنګیږئ، موږ دلته ناست یوو، بلکې موږ به ستا د راسته او چپه، مخ او شا څخه ساتنه او دفاع کوو، ته ﷺ بې فکره اوسه او د مقابلې تیاری کوه، نبی کریم چې دا واورېدل نو ډېر خوشحاله سو او په صحابه کرامو کې هم د جهاد یو نوی جوش را پورته سو، حضرت عبد الله بن مسعود به همیشه فرمایل چی د حضرت مقداد بن اسود دې کارنامې ته زه ډېر شوقمند کیږم چې کاشکې دا سعادت ما ته هم حاصل وای.

[41] [سُورَةُ المَائدة : ٢٤]

ketabton.com - The Digital Library



د خبرې لنډيز دا ده چې د حضرت موسى عليه السلام قوم په داسې نازکه موقع باندې حضرت موسى عليه السلام ته داسې بد ځواب ورکړ چې خپل ټول عهد او ميثاق يې مات کړ. [۴۲]

## شپږم عمل

### يهود يو نژادپاله قوم و

نژادپالنه د يهودو له له بنسټيزو عقايدو او مهمو تعليماتو څخه شمېرل کيږي؛ تر دې حده چې د تاريخ په اوږدو کې يهود او نژادپالنه هېڅکله له يو بل څخه جلا نه دي پاتې شوي، بلکې يو له بل سره ژوره اړيکه لري.

د يهودو دا عقيده چې ځان د نورو قومونو څخه لوړ او برتر ګڼي، د دوی پر ټولو نورو عقايدو لکه د سيورې په څېر خپره شوې ده؛ تر دې چې حتی د حضرت موسى عليه السلام دين يې يوازې په خپل نژاد کې محدود کړی دی.

که څوک د يهود له نژاده پرته وغواړي دا دين ومني، هغوی يې نه مني؛ له همدې امله يې د نورو ملتونو ترمنځ هېڅکله تبليغ نه دی کړی او نه يې کوي، بلکې د يهوديت دين يې يوازې د خپل قوم ځانګړی حق بللی دی.

همدا ځانګړې او انحصاري دريځ د دې لامل شوی چې د نورو ملتونو په نظر کې کرکجن وګرځي؛ ځکه د نړۍ خلک هغه کسان نه خوښوي چې د خپل نژاد لپاره ځانګړی امتياز قايل وي.

اسلام له دې فکر سره په کلکه مبارزه کړې ده، ځکه نژادپالنه د شرک يوه څانګه ده.

قرآني دليل د يهودو د نژادي دعوې په رد کې:

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓا۟ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُا۟ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴾ [۴۳]

---

[۴۲] [تفسير معارف القرآن: ج ۲/ ٦ سپاره/ ۱۱۲ مخ]

[۴۳] [سُورَةُ الجُمُعَة : ٦]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: دوی ته ووایه: "اې یهودانو! که تاسي پدې انګیرنه مغرور یاست چي له نورو ټولو خلکو پرته یوازي او یوازي همدا تاسي د الله نازولي یاست، نو د مرګ هیله وکړئ که تاسي پخپلي دغي انګیرني کښي رښتیني یاست."

په قرآن کریم او د یهودو په خپلو سرچینو کې د دوی نژادپالنې او د ځان برتر ګڼلو ته اشاره شوې ده.

د «غوره شوی قوم» اصطلاح په تورات او تلمود کې ډېر تکرار شوې ده، تر دې چې د نړۍ خلک یې په دوو برخو وېشلي دي:

اسرائیلي

غیر اسرائیلي

په یهودي عقیده کې دا باور بنسټیز دی چې دوی ځانګړی او غوره قوم دي. په تلمود کې راغلي چې: بني اسرائیل د زیتون د دانې په څېر دي، څکه زیتون له نورو موادو سره نه ګډېږي.

د یهودو دغه عقیده د هغوی په چلندونو کې روښانه مجسمه کېږي، تر دې چې په قرآن کریم کې د هغوی د بېلګو څرګندونه شوې ده، په سورة المائده کې د هغوی بې بنسټه دعوې او خیالي امتیاز ته اشاره شوې ده.

د قرآن له نظره د دوی بې‌بنسټه دعوې:

﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَىٰ نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ﴾[44]

ژباړه: یهودیان او نصارا وایي چي موږ د الله زامن او د هغه ډېر ګران دوستان یوو.

دا خیالي امتیاز یوازې نه دی چې دوی د ځان په اړه کې باور پرې لري بلکې په نورو ایتونو کې په وار وار د دوی دغسې ادعاو ته اشاره شوې ده، د بېلګې په ډول الله ﷻ د هغوی د جنت د انحصار دعوه بیان کړې ده:

﴿وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ ۗ تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ ۗ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ﴾[45]

---

[44] [سُورَةُ المَائدة : ١٨]

[45] [سُورَةُ البَقَرَة : ١١١]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او د هغو (اهل کتابو) دا وينا ده چې هيڅوك به جنت ته لاړ نشي، تر څو هغه يهودي نه وي يا (د عيسويانو د ګومان له مخې) عيسوی نه وي، دا د هغو (باطلې) هيلې دي. دوی ته ووايه: "که تاسي په خپله دعوه کښې رښتيني ياست، نو خپل دليل وړاندې کړئ!"

او همدارنګه د دوزخ په اړه د يهودو او نصاراو غلطه هيله:

﴿وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّآ أَيَّامًا مَّعْدُودَةً ۚ قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُۥٓ ۖ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾[46]

ژباړه: هغوی وايي: "د دوزخ اور به پر موږ هيڅکله ونه لګيږي، خو که څو ورځې سزا راکول کيږي، نو را دې کړل شي." ـ له دوی څخه پوښتنه وکړه: "ايا تاسي له الله څخه ژمنه اخيستې ده، چې له هغې څخه الله تېرېدای نه شي؟ ـ يا خبره دا ده چې په الله پورې داسي خبرې تړئ چې تاسي پرې نه پوهيږئ."

له يادو آيتونو څرګنديږي چې: د يهودو د نژادي توپير روحيه له پخوا راهيسې موجوده وه، هغوی د بني اسرائيلو لپاره د خيالي او بې بنسټه امتيازاتو قايل وو او لا هم دي، همدا د نژادپالنې فکر نن ورځ هم د نړۍ د ډېرو بدبختيو سرچينه ده.

د غاصب اسرائيلي دولت رامنځته کېدل هم د همدې نژادپالنې څرګندونه ده.

له بده مرغه ننني وخت کې د يهودو د دې فکر ځينې اغيزې په موږ کې شتون لري، تر دې چې زموږ په افغانانو کې ځينې خلک پر پښتونتوب او تاجکتوب وياړ کوي، حال دا چې دا هم د نژادپالنې يوه بڼه ده.

همدارنګه ډېر د افسوس وړ خبره داده چې پر موږ کې هر فکري مکتب دا دعوه لري چې هغوی الله ﷻ ته نږدې او برياليي خلک دي، وغيره له الله ﷻ او له دين څخه لرې او ناخبره خلک دي.

د دوی دغه ناسمې نظريې تاسو د هغوی له ليکل شويو رسالو څخه پېژندلی شئ د هغوی له بيانونو نه يې پېژندلی شئ.

---

[46] [سُورَةُ البَقَرَة : ٨٠]

ketabton.com - The Digital Library



د دې پر ځای چې موږ يو او بل ته د مينې او ورولۍ او سلامتۍ پيغام ورکړو کوم چې د اسلام غوښتنه ده، موږ نفرتونه او تفرقې رامنځته کړې دي.

د ژړا او افسوس ځای خو لا دغه دی چې زموږ په ځينو ديني مدرسو کې هغو علماو ته کوم چې نن د اسلامي امت او مسلمانانو ځوانانو د راويښولو لپاره شپه او ورځ هڅې کوي، ناسم نسبتونه کېږي، کوم علماء چې د دوی له نظريې سره سم نه وي، دا کار د تعصب او ډله بازۍ په محبت کې د تللو په وجه کېږي.

دا د يهودو او نصاراوو عمل دی، اسلام وايي: ټول مسلمانان سره ورونه دي، که د دوی تر منځ اختلاف وي تاسو يې تر منځ جوړه وکړئ، د هيڅ رنګ، ښکلا، جامه، شتمنۍ، کورنۍ، قوم او قبيله د امتياز او عزت لامل نه شي جوړېدلی بلکې:

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ﴾، ياني: ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسي کښې تر ټولو زيات پرهېزګار وي. دا د اسلامي امت اختلاف د مسلمانانو د هلاکت سرچينه ده، د کوم چې اوس يې موږ په رڼو سترګو وينو او شاهدان يې يو:

عَن ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ، وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ خِلَافَهَا، فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَعَرَفْتُ فِي وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ، وَقَالَ : "كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ، وَلَا تَخْتَلِفُوا ؛ فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمُ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا ".[۴۷]

ژباړه: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: ما يو سړی واورېد چې قرآن يې تلاوت کاوه، او ما له رسول الله ﷺ څه په بل ډول (له هغه تلاوت سره په توپير) اورېدلی و. نو ما هغه سړی د رسول الله ﷺ حضور ته راوست او خبره مې ورته وکړه. نو ما د رسول الله ﷺ په مخ کې د ناخوښۍ نښه وليده، او ويې فرمايل:

«تاسو دواړه سم ياست (ښه لوستل کوئ)، خو اختلاف مه کوئ؛ ځکه له تاسو نه مخکې خلک د اختلاف له امله هلاک شول.»

[۴۷] [صحيح البخاري حديث شمېره: ۳۴۷۶]

ketabton.com - The Digital Library



## اووم عمل

### يهودو زناكاران يوازې رسوا كول

يهودو هغه كسان چې زنا به يې كوله، په دُرو به يې وهل، مخونه به يې ورتوروول، او بيا به يې پر حيوان سپاره كړل او د خلكو په كوڅو كې به يې ګرځول، ترڅو خلكو ته رسوا شي، سنګساروال به يې نه؛ خو اسلام راغی او دا كار يې حرام اعلان كړ، او پر هغې ښځې چې مېړه ولري او پر هغه سړي چې مېرمن ولري، د سنګسار (رجم) حكم صادر كړ.

امام بخاري رحمه الله روايت كوي: : «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ الْيَهُودَ جَاءُوا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرُوا لَهُ أَنَّ رَجُلًا مِنْهُمْ وَامْرَأَةً زَنَيَا، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَا تَجِدُونَ فِي التَّوْرَاةِ فِي شَأْنِ الرَّجْمِ ؟ " فَقَالُوا : نَفْضَحُهُمْ وَيُجْلَدُونَ. فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ : كَذَبْتُمْ، إِنَّ فِيهَا الرَّجْمَ. فَأَتَوْا بِالتَّوْرَاةِ فَنَشَرُوهَا، فَوَضَعَ أَحَدُهُمْ يَدَهُ عَلَى آيَةِ الرَّجْمِ، فَقَرَأَ مَا قَبْلَهَا وَمَا بَعْدَهَا، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ : ارْفَعْ يَدَكَ. فَرَفَعَ يَدَهُ فَإِذَا فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ، فَقَالُوا : صَدَقَ يَا مُحَمَّدُ، فِيهَا آيَةُ الرَّجْمِ. فَأَمَرَ بِهِمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا».[۴۸]

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي: يو شمېر يهوديان رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته ويې ويل چې له دوی څخه يو سړي او يوې ښځې زنا كړې ده. رسول الله ﷺ ترې وپوښتل: «د رجم (سنګسار) په اړه تاسو په تورات كې څه مومئ؟» هغوی وويل: موږ هغوی رسوا كوو او په دُرو يې وهو. عبدالله بن سلام رضي الله عنه وويل: تاسو درواغ واياست؛ بېشكه په تورات كې د رجم حكم شته. نو تورات يې راوړ، پرانيست يې، او له هغوی څخه يوه كس خپل لاس د رجم پر آيت كېښود او د آيتونو مخكې او وروسته برخه يې ولوستله. عبدالله بن سلام ورته وويل: «لاس دې پورته كړه!» كله چې يې لاس پورته كړ، نو د رجم آيت ښكاره شو. هغوی وويل: «اې محمده! هغه رښتيا وايي، په تورات كې د رجم آيت شته.» نو رسول الله ﷺ امر وكړ، او هغه دواړه كسان سنګسار شول.

---

[۴۸] [بخاري: ۳۶۳۵]

ketabton.com - The Digital Library



له بده مرغه نن سبا ډېری مسلمانان هم د یهودو دا کړنه ترسره کوي؛ څکه د سنګسار حکم نه عملي کوي، بلکې زناکاران رسوا کوي یا یې زنداني کوي، او د همدې له امله په اسلامي هېوادونو کې هره ورځ د زنا شمېر زیاتېږي.

ډېره بده خو لا دا چې د داسې بدکاره او بدکرداره خلکو پسې کله چې د خلکو په اصطلاح د خانداني کورنۍ وي، بیا ډلې ډلې خلک، سپینږیري او د واسطې خلک ځي او دا غوښتنه کوي چې که نوموړی خوشې کړل شي، ډېری هغه خلک چې شناخت وغیره لري پرده وربانديې اچول کیږي که څه هم ټوله دنیا پرې خبره وي، پر مسلمان پرده اچول غوره او بهترین کار دی، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ فرمایي:

«وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۴۹]

ژباړه: څوک چې د مسلمان پرده وکړي الله ﷻ به د قیامت په ورځ د ده پرده وکړي.

خو له دې پردې سره باید نوموړی کس پوه کړل شي تهدید کړل شي چې د بیا لپاره له دا ډول کړنو نه په کلکه لاس واخلي.

علامه مقبل الوادعي رحمه الله وايي: «أحسنُ علاجٍ للجرائمِ هو إقامةُ الحدود.»[۵۰]

ژباړه: د جرمونو د کمېدو تر ټولو غوره علاج د الهي حدودو پلي کول دي.

## اتم عمل

### یهودیان یو سختزړي او وحشي قوم دي

د یهودیانو له څرګندو ځانګړنو څخه یوه د هغوی د زړونو سختوالی (قساوتِ قلب) دی، چې له امله یې عادي مخالفت په دښمنۍ او ښکاره ضدیت بدلیږي، او همدا چاره د ډېرو جګړو او شخړو سبب ګرځي. د قرآن د منطق له مخې، د زړه سختوالی او د الله هېرول د سختې او ښکاره ګمراهۍ نښې دي، او د دې سبب ګرځي چې حق ونه منل شي او الهي نور پر زړونو ونه لګیږي. هغه کسان چې زړونه یې له سختوالي ډک وي، په ښکاره او ژوره ګمراهۍ کې ډوب وي.

الله تعالی د زمر سورت په ۲۲ آیت کې فرمایي:

---

[۴۹] [صحيح البخاري: ۲۴۴۲]

[۵۰] [البشائر في السماع المباشر: ۷٤]

ketabton.com - The Digital Library



﴿ فَوَيْلٌ لِّلْقَسِيَةِ قُلُوبُهُم مِّن ذِكْرِ اللَّهِ ۚ أُولَٰئِكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ﴾[51]

ژباړه: د هغو خلکو لپاره تباهي (هلاکت) دی چې زړونه يې د الله په نصيحت سره لا زيات سخت شول، هغوی په ښکاره ګمراهۍ کښې غور ځېدلي دي.

فرانسوی ليکوال "ګوستاو لوبون" وايي: که موږ وغواړو د يهودو ځانګړنې په ځو ټکو کې راونغاړو، نو بايد ووايو: يهود د هغو انسانانو په څېر دي چې تازه له ځنګله ښار ته ننوتي وي او تل د انساني ځانګړنو څخه بې‌برخې پاتې شوي وي؛ ځکه دوی د ځمکې تر ټولو ټيټو (سپکو) خلکو په څېر ژوند کوي.

بني اسرائيل تل يو وحشي، ظالم، بې‌رحمه او بې‌غيرته قوم و؛ حتی هغه وخت هم چې دوی پر خپلو هېوادونو واکمن وو، له خپل ظلم او سفاکۍ (وينې تويولو) څخه يې لاس وانخيست. بې‌پروا جګړو ته ننوتل، او کله چې به ستړي شول، نو بې بنسټه، غير انساني خيالونو ته به يې پناه يوووړه. لنډه دا چې د يهودو او حيواناتو ترمنځ هېڅ توپير نه شي کېدای.[52]

قرآن کريم د يهودو دا ځانګړنه داسې بيانوي چې د بني اسرائيلو زړونه د هغوی د سرکشي، پلمه جوړونې او سرغړونو له امله ـ سره له دې چې ډېر آيتونه او معجزې ورکړل شوي وې ـ سخت شول، او د الهي پوهنې او آيتونو له درک کولو عاجز شول. دا سختوالی او نه اثر کېدنه د ډبرو په څېر، بلکې تر ډبرو هم سخته شوه. الله تعالی فرمايي:

﴿ ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴾[53]

ژباړه: خو د دغه ډول ننبو ننبانو له ليدلو وروسته هم په پای کښې ستاسي زړونه سخت شول، د تيږو په شان سخت؛ بلکې له هغو نه هم څه زيات سخت، ځکه ځينې داسي

[51] [سُورَةُ الزُّمَر : ٢٢]

[52] [اليهود في تاريخ الحضارات الاولى: ٥٨]

[53] [سُورَةُ البَقَرَة : ٧٤]

ketabton.com - The Digital Library



تيري هم شته چې له هغو څخه چينې راووځي، بهيږي؛ ځيني چوي او اوبه ترېنه راووځي او ځيني د خدای له وېرې لږزيږي رالويږي. الله ستاسي له کړو وړو څخه نا خبر نه دی.
نژادپالنه د يهودو له مهمو ښوونو څخه ګڼل کيږي؛ داسې چې د تاريخ په اوږدو کې «يهود» او «نژادپالنه» هېڅکله له يو بل څخه جلا نه دي پاتې شوي، بلکې يو له بل سره يې ژوره اړيکه لرلې ده.
دلته دا خبره روښانه کيږي چې داسې يو قوم، چې دا اندازه سختزړی او بېرحمه وي، نه يوازې د حق غړ ته - يعني اسلام ته چې د رحمت دين دی - لبيک نه وايي، بلکې ورسره ښکاره مخالفت هم کوي.

## نهم عمل

### يهود د لمانځه پر مهال خپل لاسونه پر ملا (ډډو) ږدي

که څه هم، الحمدلله، ما تر اوسه مسلمانان نه دي ليدلي چې د لمانځه پر مهال خپل لاسونه پر ملا (تسو يا ډډو) کيږدي، خو دا عمل په حقيقت کې د يهودو له کړنو څخه دی.
په يوه روايت کې راغلي دي:
«عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَرِهَتِ الِاخْتِصَارَ فِي الصَّلَاةِ، وَقَالَتْ: «لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ»[٥۴]
يعني: له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې هغې په لمانځه کې «اختصار» (لاسونه پر ملا اېښودل) مکروه بلل، او ويې ويل: له يهودو سره مشابهت مه کوئ.
امام بخاري رحمه الله روايت کوي:
«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا»[٥٥]
يعني: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په لمانځه کې له «اختصار» څخه منع کړې ده. امام ابو داود رحمه الله وايي: اختصار دا دی چې انسان خپل لاس پر ملا کيږدي.
همداسې يو بل روايت دی:

[٥۴] [مصنف ابن أبي شيبة: ج ١/ ص ۴٠٠، روايت شمېره: ۴٦٠٠]
[٥٥] [صحيح البخاري: حديث شمېره: ٥۴٥]

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا : كَانَتْ تَكْرَهُ أَنْ يَجْعَلَ يَدَهُ فِي خَاصِرَتِهِ وَتَقُولُ : إِنَّ الْيَهُودَ تَفْعَلُهُ.[۵۶]

يعني: حضرت عائشه رضي الله عنها روايت کوي چې: دې دا کار نه خوښاوه چې څوک دې خپل لاسونه په ډډو (ملا) کیږدي، او فرمایل به يې چې يهود دا کار کوي.

او په بل صحيح روايت کې راغلي دي:

«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الِاخْتِصَارِ فِي الصَّلَاةِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ : يَعْنِي : يَضَعُ يَدَهُ عَلَى خَاصِرَتِهِ.»[۵۷]

يعني: له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په لمانځه کې له «اختصار» څخه منع کړې ده. امام ابو داود رحمه الله وايي: اختصار دا دی چې انسان خپل لاس پر ملا (ډډو) کیږدي.

د جامع الترمذي په يو روايت کې راغلي:

«وَكَرِهَ بَعْضُهُمْ أَنْ يَمْشِيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا، وَيُرْوَى أَنَّ إِبْلِيسَ إِذَا مَشَى مَشَى مُخْتَصِرًا.»

يعني: ځيني علماو دا مکروه ګڼلي چې سړی په تګ کې لاسونه په تسو (ډډو) کیږدي، او روايت شوی چې ابليس (شيطان) کله چې ځي نو همدغسې تګ کوي.

د مصنف ابن ابی شيبه يو روايت دی:

«كَرِهَ التَّخَصُّرَ فِي الصَّلَاةِ، أَنَّ إِبْلِيسَ أُهْبِطَ مُتَخَصِّرًا»[۵۸]

يعني: په لمانځه کې په ډډو يا تسو (ملا) باندې لاسونه کېښودل مکروه دي، ځکه شيطان په همداسې حالت کې له جنت وشړلی شو.

د فتح الرباني مؤلف وايي:

«لأن إبليس أهبط متخصراً»[۵۹]

يعني: ځکه چې ابليس هغه وخت له جنت څخه وشړل شو چې لاسونه يې پر ملا ايښي وو.

---

[۵۶] [صحيح البخاري، حديث شمېره: ۳۴۵۸]

[۵۷] [سنن أبي داود، حديث شمېره: ۹۴۷]

[۵۸] [مصنف ابن أبي شيبة: ج ۱/ ص ۴۰۰، روايت شمېره: ۴۵۹۷]

[۵۹] [الفتح الرباني ۱/۲۲]

ketabton.com - The Digital Library



د مصنف ابن ابی شیبه یو بل روایت دی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ كَرِهَهُ فِي الصَّلَاةِ، وَقَالَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ ذَلِكَ»[60]

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ده به په لمانځه کې دا (په ډېرو یا تسو) لاس کېښودل بد ګڼل، او ویې ویل: چې دېته شیطان راحاضرېږي.

همدارنګه، علماوو ویلي دي چې پر ملا (ډېرو) لاس ایښودل د دوزخیانو د راحت حالت دی.[61]

حتی ځینو علماوو د لمانځه نه بهر هم پر ملا لاس ایښودل مکروه بللي دي.

یو عالم وايي؛ هرکله چې به مي پلار ولیدم چې لاسونه مې پر ملا ایښي دي، نو راته به یې ویل: دا کار مه کوه، ځکه دا د دوزخیانو کړنه ده.

## لسم عمل

### کله به چې د يهودو ښځې حیض (میاشتنی، عادت) شوې، نو د حیوان په څېر چلند به یې ورسره کاوه

کله به چې د يهودو ښځې په میاشتني عادت (حیض) اخته شوې، نو هغوی به ورسره یو ځای ډوډۍ نه خوړله او، د حیوان په څېر چلند به یې ورسره کاوه. خو مسلمان ته دا کار روا نه دی؛ مسلمان یوازې له جماع (کوروالي) څخه منع دی، خو له خپلې مېرمنې سره ټوکې کول، یو ځای ډوډۍ خوړل، ښکلول، او یو ځای ویده کېدل هېڅ ستونزه نه لري.

له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی وايي: یهود داسې و، کله به چې په دوی کې کومه ښځه حایضه شوه نو؛ دوی به نه له هغې سره خوراک کاو او نه به له هغوی سره په یو کور کې اوسېدل، نو د رسول الله ﷺ صحابه وو له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه، نو الله ﷻ دا ایتونه نازل کړل:

وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ ۖ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ.....

---

[60] [مصنف ابن أبي شيبة: ج ١/ ص ٣٩٩، روایت شمېره: ٤٥٩٣]

[61] [مصنف ابن أبي شيبة: ج ١/ ص ٤٠٠، روایت شمېره: ٤٥٩٥]

ketabton.com - The Digital Library



همداسې د ایت تر پایه. نو رسول الله ﷺ وویل: له جماع (یوځایوالي) پرته هر شی ورسره کوئ.

دا خبره یهودو ته ورسېده نو هغوی وویل: دا سړی اراده لري چې زموږ یو له کړنو نه یو شی هم پرې نږدي، په هر څه کې زموږ مخالفت کوي. بیا اسید بن حُضَیْر او عباد بن بشر راغلل او رسول الله ﷺ ته یې وویل: یهود داسې او هاسې خبرې کوي، نو موږ له دې خپلو مېرمنو سره (د حیض په حالت کې) جماع ونکړو؟ نو د رسول الله ﷺ مخ مبارک تغیر شو تر دې چې موږ دا ګمان وکړ چې پر دوی دواړو باندې په غصه شو..... [62]

په لنډه توګه دا حدیث داسې را اخلو، له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «أنَّ اليهود كانوا إذا حاضت المرأة فيهم لم يُؤاكلوها، فقال النبي ﷺ: اصنعوا كلَّ شيءٍ إلا النكاح»[63]

یعنې: «یهودو به چې کله د دوی ښځه په حیض کې وه، نو ورسره به یې یو ځای څه نه خوړل؛ نو نبي ﷺ وفرمایل: له جماع پرته هر څه کولای شئ.»

او حتی ځینو علماوو ویلي دي چې یهودو خپلو ښځو ته میراث هم نه ورکاوه.

شیخ محمد علي صابوني رحمه الله د جاهلیت په زمانه کې د ښځو د میراث د منع سبب داسې بیانوي، وایي: هغوی ماشومانو او ښځو ته میراث نه ورکاوه او ویل به یې: مال څنګه هغه چا ته ورکړو چې نه یې په آس سپرلي کړې ده، نه یې وسله پورته کړې ده، او نه یې له دښمن سره جګړه کړې ده؟![64]

## یوولسم عمل

## یهود د رسول الله ﷺ پخواني او سخت دښمنان وو

د رسول الله ﷺ له بعثت وروسته، یهودو د هغه له دعوت سره مخالفت پیل کړ او ښکاره دښمني یې ورسره وکړه. هغوی په بېلابېلو خنډونو، دسیسو او د پرمختګ په

[62] [صحيح مسلم، حديث شمېره: ۳۰۲]
[63] [صحيح مسلم]
[64] [روائع البيان في تفسير آيات الأحكام من القرآن ۳۱۵/۱]

ketabton.com - The Digital Library



مخنیوي سره د اسلام د خپرېدو مخنیوی کاوه، تر دې چې الله تعالی په قرآن کریم کې هغوی د مشرکانو تر څنګ د مؤمنانو تر ټولو سخت دښمنان وبلل.

الله عزوجل فرمایي:

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا الْيَهُودَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّا نَصَٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾[٦٥]

ژباړه: ته به د مؤمنانو په دښمنۍ کښې تر ټولو زیات سخت یهودیان او مشرکان وموميې، او په دوستۍ کښې به ډېر نژدې هغه خلك وموميې چې ویلي يې ول:په باوري توګه موږ نصارا یوو. دا له دې امله چې په هغوی کښې عبادت کوونکي عالمان او تارك الدنیا فقیران موندل کیږي او په هغوی کښې نفسي غرور نشته.

دا آیت په ډاګه څرګندوي چې د رسول الله ﷺ له وخت څخه د یهودو عمومي دریځ د اسلام پر وړاندې دښمني وه، ځکه هغوی د حق منلو پر ځای حسد، تعصب او تکبر غوره کړ.

## دولسم عمل

### د یهودو سلام د ګوتو په اشاره وي

په اسلام کې سنت دا دی چې سلام په ژبه واچول شي، او تر وسه پورې باید یوازې د لاس یا ګوتو په اشاره سلام ورنه کړل شي؛ ځکه په حدیث کې راغلي دي:

«عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ ، عَنْ أَبِيهِ ، عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ، وَلَا بِالنَّصَارَى ؛ فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ " »[٦٦]

ژباړه: «رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوک له موږ څخه نه دی چې ځان له نورو (غیر مسلمانانو) سره ورته کړي؛ له یهودو او نصاراوو سره مشابهت مه کوئ، ځکه د یهودو سلام د ګوتو په اشاره وي، او د نصاراوو سلام د لاس په ورغوي اشاره ده.»

---

[٦٥] [سُورَةُ المَائدة : ٨٢]

[٦٦] (رواه الترمذي، وحسنه الألباني)

ketabton.com - The Digital Library



البته ځینو علماوو په هغه حالت کې د لاس په اشاره سلام ته اجازه ورکړې ده چې مقابل لوری لرې وي یا غبږ ورته نه رسیږي، یا څوک ګونګی وي، خو بیا هم احتیاط دا دی چې سلام په ژبه واچول شي.

اسلام غواړي چې مسلمان خپل ځانګړی هویت وساتي، حتی په کوچنیو ظاهري آدابو لکه سلام کې هم، تر څو د امت تشخص خوندي پاتې شي.

## دیارلسم عمل

### یهود د آخرت (معاد) په اړه پوره عقیده نه لري

یوه ډله علماوو او څېړونکو لیکلي چې یهود د قیامت او اخرت پر ژوند بشپړ ایمان نه لري.[۶۷]

همدارنګه ویل دورانت لیکي چې یهود د مرګ وروسته پر ژوند عقیده نه لري او جزا او سزا یوازې د دنیا په ژوند پورې محدود ګڼي.[۶۸]

په آخرت نه باور د دې لامل ګرځي چې انسان یوازې دنیا ته ارزښت ورکړي او د اعمالو د پایلو پروا ونه کړي، چې دا کار د ډېرو اخلاقي انحرافونو سبب ګرځي.

**د عقایدو توپیرونه په بېلابېلو یهودي مکتبونو کې**

الف: Orthodox Judaism په رسمي توګه د بدن د بیا ژوندي کېدو او آخرت په اړه پوره باور لري، او دا یې د ایمان یوه بنسټیزه برخه ده.[۶۹]

ب: Conservative Judaism هم د بعد د ژوند باور ساتي، خو د ځینو تعبیرونو له مخې یې معنا تشریحي او فلسفي هم ده.[۷۰]

ج: Reform & Reconstructionist Judaism په دې مکتبونو کې د پس له مرګ عالم په اړه عقیدې تعبیر لږ محسوسیږي، ډېر یې د دې ژوند پر ښه والي او اخلاقي کولو ټینګار کوي.[۷۱]

---

[۶۷] [آشنایی با قرآن: ٦/ ۲۵۹]

[۶۸] [ویل دورانت، تاریخ تمدن: ۲/ ۳۴۵]

[۶۹] https://www.myjewishlearning.com/article/jewish-resurrection-of-the-dead/?utm_source=chatgpt.com

[۷۰] https://en.wikipedia.org/wiki/Jewish_eschatology?utm_source=chatgpt.com

[۷۱] https://en.wikipedia.org/wiki/Reincarnation?utm_source=chatgpt.com

ketabton.com - The Digital Library



د يو شمېر صوفي (کابالیستي) باورونو مثال: په کابالیزم کې gilgul (د روح تناسخ) هم یوه عقیده ده، خو دا یوازې د یهودي مېستیک (کابالیستي) مکتب پورې محدود دی — نه ټولیز یهودي باور.

**قدیمي یهودیان:** ځینې علمي ادعاوې وایي چې په ډېر پخوانیو زمانو کې د تورات اصلي متن کې د یو واضح آخرت تصویر نشته و، خو د وخت په تېریدو سره د دې تفسیرونه ډېر شول[۷۲]

## څوارلسم عمل

### یهودو په یوې ګوتې سلام کاوه

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«تَسْلِيمُ الرَّجُلِ عَلَى الرَّجُلِ بِإِصْبَعٍ وَاحِدَةٍ مثل الْيَهُودِ»[۷۳]

ژباړه: د یو کس له بل کس سره په یوې ګوتې سلام کول د یهودو په څېر ده.

یو بل روایت دی:

«تسليم الرجل بأصبع واحدة يشير بها فعل اليهود.»[۷۴]

یعني: په یوه ګوته سره سلام کول چې څوک اشاره وربانديکوي د یهودو کار دی.

خو د مسلمانانو سلام او پوښتنه په بشپړ لاس سره وي (یعني په ژبه سلام ویل او د ادب له مخې مخامخ سلام کول).

## پنځلسم عمل

### یهود ظالم، ستمګر او د دعوت کوونکو وژونکي قوم وو

د یهودو له نورو ځانګړنو څخه یوه د هغوی د ظلم، سرکښۍ او تېري روحیه ده؛ داسې چې د یهودو له پېښنو ډک تاریخ ښيي، هغوی نه یوازې دا چې د الله ﷻ له آیتونو انکار کاوو، بلکې د پېغمبرانو او د حق د بلونکو په وژلو کې هم ډېر زړور (بې‌پروا) وو. هغه

---

[۷۲] https://www.jewishideas.org/article/afterlife-jewish-thought?utm_source=chatgpt.com

[۷۳] [شُعَبُ الإيمان - ط الرشد: ج ۱۱/ص۲۶۵، روایت شمېره: ۸۵۲۱، في الزوائد هذا اسناد صحیح. ورجاله ثقات. احتج مسلم بجمیع رواته]

[۷۴] [کنزالعمال: ج۹/ص۱۲۸ "طس هب عن جابر"، روایت شمېره: ۲۵۳۳۲]

ketabton.com - The Digital Library



مجاهدين او د حق پلويان چې د پېغمبرانو ملاتړ ته راپورته کېدل، هغوی به يې د تورې له تېغه تېرول.

له هغو پېغمبرانو څخه چې د دوی په لاس ووژل شول، يحيی او زکريا عليهما السلام دي؛ يوازې په دې چې هغوی يې له فحشاء او منکراتو څخه منع کول. همدارنګه هغوی غوښتل چې هارون عليه السلام - چې د موسی عليه السلام ځای ناستی و - ووژني، او د عيسی عليه السلام لپاره يې د دار ستنې تيارې کړې وې.

الله عزوجل د هغوی حال داسې بيانوي:

﴿لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ﴾[٧٥]

ژباړه: موږ له بني اسرائيلو څخه کلکه ژمنه اخيستې او هغو ته مو ډېر پېغمبران لېږلي، خو کله چې کوم پېغمبر هغو ته د هغو د نفسي غوښتنو پر خلاف څه شی راوړی دی، نو چا ته يې د درواغو نسبتونه کړي او څوك يې وژلي دي.

او همدارنګه د سورة آل عمران د ۲۱م آيت په اړه يادونه شوې ده چې الله تعالی د الهي پېغمبرانو وژل يو ناحقه او بېدليله کار بللی، بنی اسرائيل يې د پېغمبرانو او د هغوی د ملاتړو قاتلان معرفي کړي، او هغوی ته يې د دردناک عذاب وعده ورکړې ده— د دې له امله چې هغوی درې څلوېښت (۴۳) پېغمبران او يوسل او دولس (۱۱۲) د امر بالمعروف او نهی عن المنکر بلونکي وژلي دي. الله عزوجل د هغوی کيسه کوي او فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّـۧنَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾[٧٦]

ژباړه: کوم خلك چې د الله د حکمونو او لارښوونو له منلو څخه انکار کوي او (د هغه) پېغمبران په ناحقه وژني او د داسې خلکو په وژلو پسې ګرځي، چې د عدل او رښتينولۍ د حکم کولو لپاره را پورته کيږي؛ نو هغو ته د دردناك عذاب زيری ورکړه.

---

[٧٥] [سُورَةُ المَائدة : ٧٠]

[٧٦] [سُورَةُ آل عِمرَان : ٢١]

ketabton.com - The Digital Library



هغه کسان چې د داسې سرکښې او باغي روحيې خاوندان وي، چې د الهي پیغمبرانو وژل ورته ډېر اسانه ښکاري، هیڅکله به د الله ﷻ د احکامو، او د هغه د امر او نهي پر وړاندې خاضع نه شي. همدا خوی پخپله یو لامل ګرځي چې له اسلام سره—چې د عبادت او بندګۍ دین دی، او ټول خلک د الله پر وړاندې عاجزۍ او تواضع ته رابولي— مخالفت وکړي.

خو زموږ د سیمې خلک هم په دې عمل کې له یهودو سره ورته والی لري؛ تر دې کچې چې په افغانستان او پاکستان کې علما شهیدان شوي دي، خو تر اوسه یې کوم کافر نه دی وژلی. زموږ د ډېرو مسلمانانو په نزد د چرګ وینه ارزښت لري، خو د علماوو وینه ارزښت نه لري.

هو، ځو ورځې شور او غږ پورته کوي او د هغوی پر قبرونو لکه د یهودو په څېر جوماتونه جوړوي، خو نه یې د انتقام خبره وي او نه د هغوی پر پلونو د تګ اراده.

تر هغې چې علما ژوندي وي، په بېلابېلو نومونو او لقبونو یې یادوي، خو کله چې یې ووژل شي او ملاتړ یې و نه شي، بیا یې پر قبرونو لمونځونه کوي او ترې توسل غواړي. دا خلک له یهودو سره هېڅ توپیر نه لري، او یهود پرې ویاړي په هغه څه چې دوی یې ترسره کوي.

## شپاړسم عمل

### یهودد به په خپلو جنازو کې د اور لوښي وړلو

د اهل کتابو له کړنو څخه دا هم وو چې کله به د هغوی له ډلې څخه یو څوک وفات شو، نو د هغه د جنازې سره به یې د اور لوښي هم یوځای وړ. الحمد لله، مسلمانان دا کار نه کوي، که څه هم دا عمل د ځینو روافضو په منځ کې موجود دی.

له سعید بن جبیر رحمه الله څخه روایت دی چې هغه په یوې جنازې کې د اور لوښي ولید، نو هغه یې مات کړ او ویې ویل: ما له ابن عباس رضي الله عنه څخه اورېدلي چې فرمایل یې: «لا تشبهوا بأهل الكتاب»[۷۷]

یعني: «له اهل کتابو سره مشابهت مه کوئ.»

[۷۷] [المصنف ابن ابي شيبة - ت الحوت: ج۲/ص۴۷۲، روایت شمېره: ۱۱۱۷۴]

ketabton.com - The Digital Library



«حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ الْحَسَنِ، وَابْنِ سِيرِينَ أَنَّهُمَا «كَرِهَا أَنْ تُتْبَعَ الْجِنَازَةُ بِمِجْمَرٍ»[78]

يعني: حسن بصري او ابن سيرين رحمهما الله دا كار بد باله چي د جنازه پسې د اور لوښی يووړل شي.

له عبد الله بن عبيد بن عمير څخه روايت دی:

عَنْ عَائِشَةَ «أَنَّهَا أَوْصَتْ أَنْ لَا تَتْبَعُونِي بِمِجْمَرٍ، وَلَا تَجْعَلُوا عَلَيَّ قَطِيفَةً حَمْرَاءَ»[79]

ژباړه: له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې دې دا وصيت وکړ چې زما د جنازې سره د اور لوښی مه وړئ او زما پر جنازه سور رنګه ټوټه (رخت) مه اچوئ!.

**١ـ د «مِجْمَر» لغوي څېړنه**

**اصل:** ج ـ م ـ ر (جَمَرَ)، په عربي کې د «جمر» مانا ده: اور بلېدل، سکاره کېدل، لمبه او تودوخه

**الجَمْرَةُ** (سکاره، سوځېدلی اور)

**صرفي جوړښت:** مِجْمَر د آلې اسم دی (اسمُ الآلة) په وزن: مِفْعَل

يعني: هغه شی چې پکې اور بليږي يا سکاره اېښوول کيږي.

**٢ـ د «مِجْمَر» لغوي ماناوې (له معتبرو لغتونو)**

**لسان العرب المِجْمَرُ**: ما يُجْمَرُ فيه من نار أو بخور

يعني: مِجْمَر هغه لوښی دی چې پکې اور يا بخور بليږي.

**القاموس المحيط المِجْمَرُ**: وعاءُ الجمر

يعني: **مِجْمَر** د سکرو (اور) لوښی دی.

**تاج العروس المِجْمَرُ**: ما يُوضَع فيه الجمر للتبخير

يعني: هغه لوښی چې د خوشبويۍ لپاره پکې سکاره اېښوول کيږي.

---

[78] [المصنف ابن ابي شيبة - ت الحوت: ج٢/ص ٤٧٢، روايت شمېره: ١١١٧٥]

[79] [المصنف ابن ابي شيبة - ت الحوت: ج٢/ص ٤٧٢، روايت شمېره: ١١١٧٢]

ketabton.com - The Digital Library



## اوولسم عمل

### یهودیان دنیا او مال له ټولو دینونو څخه زیات خوښوي

د بشریت په تاریخ کې داسې ملت نه دی لیدل شوی چې د مالپرستۍ او شتمنۍ راټولولو کې د یهودو په څېر وي. هغوی د مال د ترلاسه کولو لپاره هره لاره خپلوي، که څه هم دا د انساني شرف او عزت خلاف وي. د همدې هدف لپاره یې ټولې مشروع او نامشروع لارې وهلې دي، بلکې د ځانګړې حرص او طمع له امله یې مال ته د عبادت تر کچې میلان کړی او د شتمنۍ په راټولولو بوخت شوي دي.

قرآن کریم هغوی د نړۍ تر ټولو حریص او دنیاپالو خلکو په توګه یادوي، او فرمایي چې یهودیان د ژوند کولو او د اوږد عمر لرلو تر ټولو زیات حرص لري. هغوی د هر ډول دنیوي ژوند سره، که هر څومره سپک هم وي، مینه لري او پرې ښتي دي. دومره یې په دې دنیا زړه تړلی چې هر یو یهودي د زر کلن عمر هیله لري. د یهودو د دنیا سره مینه حتی د مشرکانو له مینې هم زیاته ده، او د هغوی کړنې او اخلاق د دنیا د ژوند په اړه د سخت حرص او د مرګ له وېرې څخه پرده پورته کوي.

الله تعالی په سورة بقره کې دې حقیقت ته اشاره کړې او فرمایي:

﴿وَلَتَجِدَنَّهُمْ أَحْرَصَ النَّاسِ عَلَىٰ حَيَوٰةٍ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُوا ۚ يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ أَلْفَ سَنَةٍ وَمَا هُوَ بِمُزَحْزِحِهِ مِنَ الْعَذَابِ أَن يُعَمَّرَ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌ بِمَا يَعْمَلُونَ﴾[٨٠]

ژباړه: ته به هغوی (یهودان) له بل هر چا څخه د ژوند حریصان ومومې، آن تر دې چې دوی په دې کار کښې له مشرکانو څخه هم وړاندې شویدي. د هغو هر یو دا غواړي چې په څه شان زر کله ژوند وکړي، په داسې حال کښې چې اوږد عمر خو هغوی له عذابه څخه لیرې غورځولای نه شي. څه عملونه چې دوی کوي، الله خو هغهویني.

په رښتیا دا خبره روښانه کېږي چې کله یو قوم په دنیا مین شي، نو مال د هغوی تر ټولو لوی معبود ګرځي. دا ډول خلک نه د روښانو دلایلو په وسیله هدایت مومي او نه د دین تبلیغ مني، بلکې ورسره مخالفت کوي. همدا فطري خصلت یې لامل ګرځي چې له هر پیغمبر سره مخالفت وکړي، او دا مخالفت د اسلام له پیغمبر ﷺ سره لا ډېر

[٨٠] [سُورَةُ البَقَرَة : ٩٦]

ketabton.com - The Digital Library



شدید وي؛ ځکه چې د اسلام په عقیده کې د دنیا مینه د هر ګناه او خطا سرچینه بلل شوې ده.
خو زموږ په افغانانو کې هم دا حالت لیدل کیږي: د یو موبایل او څو افغانیو لپاره ځوانان د عامو لارو په سر ویشتل کیږي؛ نو ایا دا خلک له یهودو کم دي؟
د مال او دنیا تر لاسه کولو لپاره په ټولو الهٰي لارښوونو، امرونه او نواهیو پل ږدو سودو کوو رشوت اخلو د خور او لور حق خورو پردۍ ځمکې او جایدادونه غصب کوو دا د دې ښکاره څرګندونه ده چې موږ هم د اوږد عمر هیله او تمه لرو او دا فکر مو دی چې بیا به مزې او چړچې کوو. نعوذبالله

## اتلسم عمل

### یهودیان د خپلو مړو مخ نه پټوي

د یهودو له نورو عادتونو څخه دا هم دی چې د خپلو مړو مخونه نه پټوي.
له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ وفرمایل:
«خَمِّرُوا وُجُوهَ مَوْتَاكُمْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ»[۸۱]
ژباړه: «د خپلو مړو مخونه پټ کړئ، او له یهودو سره مشابهت مه کوئ.»
پر مسلمان لازمه ده چې کله د هغه له خپلوانو څخه څوک وفات شي، نو مخ یې پټ کړي او په تر ټولو لنډ وخت کې یې خاورې ته وسپاري.
په یوه صحیح حدیث کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
« " أَسْرِعُوا بِالْجِنَازَةِ، فَإِنْ تَكُ صَالِحَةً فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا، وَإِنْ يَكُ سِوَى ذَلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ ".»[۸۲]
ژباړه: «جنازه ژر یوسئ؛ که مړی صالح انسان وي، نو هغه د خیر پر لور وړئ او غوره ده چې ژر ورته ورسیږي، او که داسې نه وي، نو دا یو شر دی چې ښه ده ژر یې له خپلو اوږو ښکته کړئ.»

---

[۸۱] [المعجم الكبير للطبراني: ج۱۱/ص۱۸۳، روایت شمېره: ۱۱٤۳٦]
[۸۲] [بخاري: ۱۳۱۵، مسلم: ۹۴۴]

ketabton.com - The Digital Library



علماء په بېلابېلو مواقعو لیکي او وايي: د صالح مړي د دفن ځنډول او په کور کې یې ساتل د مړي پر وړاندې یو ډول ظلم او تېری دی؛ ځکه چې صالح مړی کله چې له کوره وایستل شي، نو روح یې وايي: «قَدِّمُونِي، قَدِّمُونِي»[۸۳]

ژباړه: «ما ژر یوسئ، ما ژر یوسئ.»

نن ورځ موږ د رسول الله ﷺ لارښوونې او نصیحتونه له پامه غورځولي د دې پر ځای چې د مړي په تکفین او تجهیز تلوار وکړو، ژر ژر یې جنازه وکړو او دفن یې کړو، ځنډولی مو وي چې ولا فلانی زوی یې نه دی راغلی، فلانی ورور یې نه دی راغلی فلانی او فلانی نه دي راغلي دا هغه خلک ول چې په ژوند به یې پوښتنه هم نه کوله یو ټلیفوني زنګ او اړیکه یې هم نه ورسره نیوله، نن مو بیا مړی د نبوي لارښوونو په خلاف ځنډولی دی چې ودرېږه راورسېږي.

وغیره د نورو بېځایه رواجونو په وجه هم نن زموږ مړي ځنډېږي، او بیا د ښه والي او غیرت دعوه داران هم یو.

## نولسم عمل

یهودیانو له الله عزوجل سره تړون مات کړ

الله عزوجل د هغوی په اړه داسې حکایت کوي: ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا ٱللَّهَ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا وَأَقِيمُوا ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا ٱلزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ﴾[۸۴]

ژباړه: او هغه وخت (یاد کړه) چې له بني اسرائیلو څخه موږ کلکه ژمنه اخیستې وه چې د الله پرته به د هیچا عبادت نکوئ، له مور او پلار، له خپلو خپلوانو، له یتیمانو او مسکینانو سره به غوره چار چلن کوئ؛ خلکو ته ښې خبرې کوئ، لمونځ کوئ او زکات ورکوئ؛ خو د لږو کسانو پرته نور تاسې ټول له دې ژمنې څخه واووښتلئ او اوس هم مخ اړوونکي یاست.

---

[۸۳] [صحیح البخاري: ۱۳۱۴،۱۳۱۶، ۱۳۸۰]

[۸۴] [سُورَةُ البَقَرَة : ۸۳]

ketabton.com - The Digital Library



الله تعالی دغه مظلوم او ځپل شوی قوم، چې له غلامۍ، اسارت او ذلت پرته يې بل څه نه لرل، د موسی علیه السلام په وسیله د ظالم او جابر فرعوني قوم له منګولو خلاص کړ، هغوی يې وارثان وګرځول او پر ټولو خلکو يې برلاسي ورکړه؛ لکه څنګه چې الله عزوجل فرمايي:

﴿يٰبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ اذْكُرُوا نِعْمَتِيَ الَّتِيٓ أَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ وَأَنِّي فَضَّلْتُكُمْ عَلَى الْعٰلَمِينَ﴾[85]

ژباړه: اې بني اسرائیلو! زما هغه نعمت درياد کړئ چې درباندي پېرزو کړی مې ؤ او دا چې د نړۍ پر ټولو اُمتونو مې تاسي ته فضيلت درکړی ؤ.

خو ايا دا قوم، چې دغو سترو نعمتونو ته ورسېد، شکرګزار او قدردان شو؟ که يې د کفر، سرغړونې، ضد او لجاجت لاره خپله کړه؟

هر څوک چې د دې قوم له حالاتو لږ معلومات هم ولري، په اسانه پوهېږي چې هغوی ټول هغه تړونونه چې الله تعالی د موسی علیه السلام په وسیله ترې اخيستي وو تر پښو لاندې کړل؛ لکه: د يوازيني الله ﷻ عبادت، له مور او پلار سره نيکي، له خپلوانو، يتيمانو او مسکينانو سره ښه چلند، له خلکو سره ښې خبرې او ښه اخلاق، د لمانځه قائمول، د زکات اداکول، له اذيت، ظلم او وينې تويولو ځان ساتل، او د الهي پیغمبرانو د رسالت منل؛ بلکې هغوی الله ته شريکان وټاکل او د الله عزوجل په اړه يې په شرک لړلې خبرې وکړې.

## شلم عمل

### يهودو به له بوټونو سره لمونځ نه کاوه

موږ په ډېرو جنازو کې ګډون کړی دی؛ هلته موږ وينو چې ځينې عام خلک، بلکې آن هغه کسان چې ځانونه عالم او پوه ګڼي، امر کوي چې بوټونه بايد وايستل شي او له بوټونو سره دې لمونځ نه اداکيږي.

يو عالم وايي: زه پخپله د خپلې سیمې د يوه جومات امام يم. څو کسان يوازې د همدې لپاره جومات ته نه راځي چې ځينې ځوانان له بوټونو سره لمونځ کوي، حال دا چې دوی

---

[85] [سُورَةُ البَقَرَة : ٤٧]

ketabton.com - The Digital Library



خبر نه دي چې يهود به له بوټونو سره لمونځ کول بد ګڼل، او هغوی به په بوټونو کې لمونځ نه کاوه.

خو حقيقت دا دی چې له بوټونو سره لمونځ کول سنت دي؛ ځکه انس رضي الله عنه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ له بوټونو سره لمونځ کړی دی.

«أَخْبَرَنَا أَبُو مَسْلَمَةَ سَعِيدُ بْنُ يَزِيدَ الْأَزْدِيُّ ، قَالَ : سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ : أَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي نَعْلَيْهِ ؟ قَالَ : نَعَمْ.»[۸۶]

وايي: ما له انس بن مالک نه پوښتنه وکړه چې نبي کريم ﷺ په بوټونو کې لمونځ کړی دی؟ هغه راته وويل چې: هو.

همدارنګه شداد بن اوس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«خَالِفُوا الْيَهُودَ ؛ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ»[۸۷]

يعني: «له يهودو سره مخالفت وکړئ؛ ځکه هغوی نه په بوټونو کې او نه په موزو کې لمونځ کوي.»

**يادونه:** په ټوله کې له بوټونو سره لمونځ کول واجب نه دي، بلکې کله نا کله بايد انسان د يهودو له مشابهته د ځان ژغورلو لپاره له خپلو بوټونو سره لمونځ وکړي؛ ځکه رسول الله ﷺ کله له بوټونو سره او کله بې‌بوټو لمونځ کاوه.

همدارنګه له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی: وايي رسول الله ﷺ وفرمايل:

" إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَخَلَعَ نَعْلَيْهِ فَلَا يُؤْذِ بِهِمَا أَحَدًا، لِيَجْعَلْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَوْ لِيُصَلِّ فِيهِمَا ." [۸۸]

ژباړه: کله چې په تاسو کې کوم يو لمونځ کوي او خپل بوټونه وکاږي نو هيچا ته دې هم تکليف نه ورباندې ورکوي، د خپلو پښتو ترمنځ دې کېږدي، او يا دې لمونځ پکې وکړي، (يعني له سره دې کاږي نه).

[۸۶] [بخاري: ۳۸٦، ۵۸۵۰ – مسلم: ۵۵۵]

[۸۷] (ابوداود: ٦۵۲، بزار: ۳٤۸۰، ابن حبان: ۲۱۸٦، حاکم: ۲٦۰/۱، ۹۵٦) الباني او حاکم دا حديث صحيح بللی دی، او ذهبي هم ورسره موافق دی.

[۸۸] [سنن ابي داود: حديث شمېره: ٦۵۵، الباني صحيح ګڼلی ]

ketabton.com - The Digital Library



يعني: «کله چې له تاسو څخه څوک د لمانځه لپاره ودربږي، نو يا دې خپل بوټونه پر پښو کړي (او لمونځ دې پکې وکړي)، او يا دې وباسي او د خپلو پښو ترمنځ دې کېږدي، او په دې توګه دې نور خلک په خپلو بوټونو نه تنګوي.»

**يادونه:** دلته دا خبره هم اړينه ده چې بوټونه بايد له ناپاکۍ (نجاست) څخه پاک وي؛ که نه، نو که بوټونه په نجاست ککړ وي، لمونځ پکې صحيح نه دی. ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«فَإِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ، فَلْيَقْلِبْ نَعْلَهُ، فَلْيَنْظُرْ فِيهَا، فَإِنْ رَأَى بِهَا خَبَثًا، فَلْيُمِسَّهُ بِالْأَرْضِ، ثُمَّ لِيُصَلِّ فِيهِمَا»[89]

يعني: «کله چې له تاسو څخه څوک جومات ته راشي، نو خپل بوټونه دې واړوي او لاندې دې وګوري؛ که نجاست پکې ووينې، نو په ځمکه دې ومښي او بيا دې په هماغو بوټونو کې لمونځ وکړي.»

او په بل حديث کې راغلي دي: «بَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ، فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ الْقَوْمُ أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ، فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ : " مَا حَمَلَكُمْ عَلَى إِلْقَاءِ نِعَالِكُمْ ؟ ". قَالُوا : رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِنَّ جِبْرِيلَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّ فِيهِمَا قَذَرًا ". أَوْ قَالَ : " أَذًى ". وَقَالَ : " إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلْيَنْظُرْ، فَإِنْ رَأَى فِي نَعْلَيْهِ قَذَرًا - أَوْ أَذًى - فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيهِمَا »[90]

يعني: «رسول الله ﷺ له خپلو اصحابو سره لمونځ کاوه، چې ناڅاپه يې خپل بوټونه وايستل او د خپل چپ لوري ته يې کېښودل. کله چې صحابه وو دا وليدل، هغوی هم خپل بوټونه وايستل. کله چې رسول الله ﷺ لمونځ پای ته ورساوه، ويې فرمايل: څه شي تاسو دې ته اړ کړئ چې خپل بوټونه وباسئ؟ هغوی وويل: موږ وليدل چې تاسو خپل بوټونه وايستل، نو موږ هم ستاسو د پيروي په نيت همداسې وکړل.

[89] (مسند احمد: ۱۱۱۵۳)

[90] (سنن ابي داود: ٦٥١-٦٥٠)

ketabton.com - The Digital Library



نو رسول الله ﷺ وفرمایل: جبرئیل علیه السلام ما ته راغی او خبر یې راکړ چې زما د بوټونو لاندې نجاست و، له همدې امله مې هغه وایستل. او بیا یې وفرمایل: کله چې له تاسو څخه څوک جومات ته راشي، نو خپل بوټونه دې واړوي او لاندې دې وګوري؛ که پکې نجاست یا کوم زیان ووینې، نو هغه دې ومښي او بیا دې په هماغو بوټونو کې لمونځ وکړي.»

کله چې څوک له موزو (بوټونو) سره په نجاست (مرداري) وخیړي نو پاکوالی یې په خاوره سره راځي: "لقوله صلی الله علیه وسلم: "إذا جاء أحدكم المسجد فلينظر في نعليه فإن رأى أو قذر فليمسحهما وليصل فيهما"د رسول الله ﷺ د دې قول په اساس چې فرمایلي یې دي: په تاسو کې چې کوم یو جومات ته راشي نو خپل بوټونه دې وګوري کې مرداري یې ورباندې ولیده نو هغه دې مسح کړي (په ځمکه دې وموښي) او لمونځ دې پکې وکړي. [۹۱]

## یوویشتم عمل

### یهودو به په سجده کې خپلې سترګې پټولې

په سجده کې د سترګو پټول سم کار نه دی؛ ځکه دا د یهودو عمل و.

له انس رضي الله عنه څخه د دیلمي په روایت کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«لَا تُغْمِضُوا أَعْيُنَكُمْ فِي السُّجُودِ فَإِنَّهُ مِنْ فِعْلِ الْيَهُودِ» [۹۲]

یعنې: «په سجده کې خپلې سترګې مه پټوئ؛ ځکه دا د یهودو له کړنو څخه دي.»

## دوه ویشتم عمل

### اهل کتابو به ویښتان راپرېښودل

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ كَانَ يَسْدِلُ شَعَرَهُ، وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرُقُونَ رُءُوسَهُمْ، فَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ رُءُوسَهُمْ، وَكَانَ رَسُولُ

[۹۱] [حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الايضاح: ص ۱۶۳.]

[۹۲] (کنزالعمال: ج۷/ ص۴۶۵، روایت شمېره: ۱۹۸۰۷)

ketabton.com - The Digital Library


اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ بِشَيْءٍ، ثُمَّ فَرَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ.»[٩٣]

يعني: ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ به خپل ويښتان پر تندي ښکته راپرېښودل، حال دا چې مشرکينو به خپل سرونه په منځ اړول. اهل کتابو هم خپل ويښتان ښکته راپرېښودل، او رسول الله ﷺ به په هغو چارو کې چې کوم ځانګړی حکم نه و پرې راغلی، له اهل کتابو سره موافقت خوښاوه. وروسته بيا رسول الله ﷺ هم خپل سر (وېښتان) په منځ واړول.

محديثنو ليکلي چې رسول الله ﷺ لومړی له مشرکينو سره د مخالفت په پار د اهل کتابو عمل غوره کړ ځکه چې هغوی د پخوانيو پيغمبرانو په اثارو باندې روان وو، خو کله چې ډېرو مشرکينو اسلام ومانه، نو رسول الله ﷺ په دغه وخت کې د اهل کتابو مخالفت غوره کړ.[٩٤]

**يادونه**: شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله د روافضو ځينې مشابهتونه له يهودو سره ياد کړي دي، چې دلته يې درته راوړو:

## درويشتم عمل

### يهود وايي: پاچاهي يوازې د داود د کورنۍ حق دی

يهود وايي: پاچاهي روا نه ده مګر د داود عليه السلام د اولاد لپاره.

او روافض وايي: امامت روا نه دی مګر د علي رضي الله عنه د اولاد لپاره.

## څلرويشتم عمل

### يهود وايي: تر هغه چې مسيح راښکاره نه شي، جهاد نشته

يهود وايي: تر هغه چې مسيح راښکاره نه شي او توره راښکته نه شي، جهاد نشته.

او روافض وايي: تر هغه چې مهدي راښکاره نه شي او له آسمانه يو غږ کوونکی غږ ونه کړي، جهاد نشته.

---

[٩٣] (بخاري: ٣٥٥٨)

[٩٤] [فتح الباري بشرح البخاري: ج٦/ ص٥٧٤]

ketabton.com - The Digital Library



له بده مرغه، د اهل سنتو له ځینو علماوو څخه هم دا خبره اوریدل کیږي چې وایي: تر څو د مسلمانانو حاکم د جهاد امر نه وي کړی، جهاد نشته، او هر څوک چې جهاد وکړي هغه خوارج بلل کیږي.

په داسې حال کې چې د سنن ابي داود په روایت د انس رضي الله عنه له قوله چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«اَلْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِي اللَّهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّالَ... »[۹۵]

یعني: جهاد به تل جاري وي، زما له مبعوث کېدلو نه پیل تر دې چې زما اخرنی امتي (عیسی "ع" یا مهدي) به دجال سره جنګیږي او قتل کوي به یې.

**د عامو مشایخو په نزد**: جهاد په هر حال کې فرض دی، یوازې دا چې له نفیر عام (د دښمن په مقابله کې د ټولو خلکو له دریدلو) مخکې فرض کفایي دی او وروسته له نفیر عام څخه فرض عین دی. او همدا صحیح ده. [۹۶]

"وَعَامَّةُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى قَالُوا الْجِهَادُ   فَرْضٌ عَلَى كُلِّ حَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفِيرِ فَرْضُ كِفَايَةٍ وَبَعْدَ النَّفِيرِ فَرْضُ عَيْنٍ وَهُوَ الصَّحِيحُ".

## پنځه ویشتم عمل

### یهودو به تر هغو لمونځ نه کاوه څو ستوري به ښکاره شوي نه وو

یهودیانو به تر هغه د لمانځه ادا کول ځنډول، څو به ستوري ښکاره شول. همدارنګه روافض د ماښام لمونځ تر ستورو د راښکاره کېدو پورې ځنډوي؛ حال دا چې په حدیث کې راغلي دي:

«لَا تَزَالُ أُمَّتِي عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ حَتَّى تَشْتَبِكَ النُّجُومُ»[۹۷]

یعني: زما امت به تر هغه پر فطرت (سنتو) ولاړ وي، څو د ماښام لمونځ تر ستورو ښکاره کېدو پورې نه ځنډوي.

---

[۹۵] [سنن ابي داود: روایت شمېره: ۲۵۳۲]

[۹۶] "وَعَامَّةُ الْمَشَايِخِ رَحِمَهُمْ اللَّهُ تَعَالَى قَالُوا الْجِهَادُ   فَرْضٌ عَلَى كُلِّ حَالٍ غَيْرَ أَنَّهُ قَبْلَ النَّفِيرِ فَرْضُ كِفَايَةٍ وَبَعْدَ النَّفِيرِ فَرْضُ عَيْنٍ وَهُوَ الصَّحِيحُ" . [الفتاوی عالمگیریه-الفتاوی الهندية: ج ۲ /ص ۱۸۲]

[۹۷] [سنن ابوداود: ۴۱۸، ابن ماجه: ۶۸۹]

ketabton.com - The Digital Library



همدارنګه د مسند دارمي روايت دی وايي رسول الله ﷺ وفرمايل:
«لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ مَا لَمْ يَنْتَظِرُوا بِالْمَغْرِبِ اشْتِبَاكَ النُّجُوم»[98]
ژباړه: زما امت به تر هغو پورې په خير کې وي تر څو چې د ماښام لمونځ ته د ستورو تر راختلو او ګڼېدلو پورې منتظر نه شي.
يعني که د ماښام وخت داخلېدلو سره بيا هم دوی ستورو راختلو ته منتظر شي نو دوی به دغه خير له لاسه ورکړي.
ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ويل يې:
«بَادِرُوا بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ قَبْلَ طُلُوعِ النَّجْمِ»[99]
ژباړه: د ماښام په لمانځه د ستورو له راختلو مخکې تلوار کوئ!
همدارنګه د مسند احمد روايت دی وايي: رسول الله ﷺ فرمايي:
«لَنْ تَزَالَ أُمَّتِي فِي مُسْكَةٍ مَا لَمْ يَعْمَلُوا بِثَلَاث: مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ بِانْتِظَارِ الْإِظْلَام مُضَاهَاةَ الْيَهُود، وَمَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْفَجْرَ إِمْحَاقَ النُّجُومِ مُضَاهَاةَ النَّصْرَانِيَّة، وَمَا لَمْ يكلُوا الْجَنَائِزَ إِلَى أَهْلِهَا»[100]
يعني: زما امت به تل په خير کې وي تر څو چې يې دغه درې عملونه نه وي کړي:
۱. تر څو چې د ماښام لمونځ د تيارو تر راختلو پورې ونه ځنډوي د يهودو په شان.
۲. او تر څو چې د سهار لمونځ د ستورو تر خپ کېدلو پورې ونه ځنډوي د نصاراوو په شان.
۳. او تر څو چې يې جنازې د هغوی څښتنانو ته نه وي ورسپارلې.
**يعني:** د مړي په جنازه او غم شريکې کې يې ګډون نه وي پرېښی، نو که دا عملو نه يې پيل کړل بيا به په خير کې نه وي.

[98] [مسند الدارمی: روايت شمېره: ۱۲۴۶ ]
[99] [مسند احمد: حديث شمېره: ۲۳۵۲۱ ]
[100] [مسند احمد: حديث شمېره: ۱۹۰۶۷]

ketabton.com - The Digital Library



## شپږویشتم عمل

### يهودو به روژه ماتی (افطار) ځنډاوه

يهودو به هغه وخت روژه ماتوله چې کله به ستوري ښکاره شول:

«قَالَ رَجُلٌ لِعَمَّارٍ: إِنَّ أَبَا مُوسَى، قَالَ: «لَا تُفْطِرُوا حِينَ تَبْدُو الْكَوَاكِبُ، فَإِنَّ ذَلِكَ فِعْلُ الْيَهُودِ» [۱۰۱]

ژباړه: يو سړي عمار بن ياسر رضي الله عنه ته وويل: بېشکه ابو موسی وايي: «کله چې ستوري ښکاره شي، افطار مه کوئ (روژه مه ماتوئ) ؛ ځکه دا د يهودو عمل دی.»

يعني:«په هغه وخت کې روژه مه ماتوئ چې ستوري ښکاره شي؛ ځکه دا د يهودو کړنه ده، بلکې خرنګه چې لمر ولوېږي ياني د لمر سترګه ډوبه شي روژې ماتې کړئ ځنډوئ يې مه.»

خو د مسلمانانو افطار دا دی لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَاهُنَا، وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَاهُنَا، وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ، فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ» [۱۰۲]

ژباړه: «کله چې شپه له دې اړخه راشي (ختيځ له خوا)، او ورځ له دې اړخه (د مغرب په لوري) ولاړه شي، او لمر پرېوزي، نو روژه دار دې روژه ماتوي.

**يعني:** کله چې ورځ پايته ورسيږي، لمر ولوېږي او د شپې څنډې له ختيځ نه راښکاره شي نو د روژه‌دار د روژه ماتي (افطار) وخت را رسېدلی دی، نور دې روژه ماته کړي ستورو راختلو او د تیارې خپرېدلو او ډېرېدلو ته دې نه ګوري.

د مسلم شريف حديث دی: عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ ، قَالَ : دَخَلْتُ أَنَا، وَمَسْرُوقٌ عَلَى عَائِشَةَ ، فَقُلْنَا : يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، رَجُلَانِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؛ أَحَدُهُمَا : يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ، وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ، وَالْآخَرُ يُؤَخِّرُ الْإِفْطَارَ، وَيُؤَخِّرُ الصَّلَاةَ، قَالَتْ : أَيُّهُمَا الَّذِي

---

[۱۰۱] [المصنف -ابن ابي شيبة- ت الحوت: ج۲/ ۲۷۷، روايت شمېره: ۸۹۴۷]

[۱۰۲] [صحيح البخاري: ۱۹۵۴، مسلم: ۱۱۰۰]

ketabton.com - The Digital Library



يُعَجِّلُ الْإِفْطَارَ، وَيُعَجِّلُ الصَّلَاةَ ؟ قَالَ : قُلْنَا : عَبْدُ اللَّهِ. يَعْنِي ابْنَ مَسْعُودٍ، قَالَتْ : كَذَلِكَ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[١٠٣]

ژباړه: ابو عطيه رضي الله عنه وايي: زه او مسروق ام المؤمنين حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورغلو او ورته ومو ويل: اې د مؤمنانو مورې! د رسول الله ﷺ په اصحابانو کې دوه سړي دي، يو يې په روژه ماتي کې هم تلوار کوي او د ماښام په لمانځه کې هم تلوار کوي، او بل يو يې هم روژه ماتی ځنډوي او هم د (ماښام) لمونځ ځنډوي!؟

عائشې رضي الله عنها راته وويل: هغه کوم يو دی چې په روژه ماتي او لمانځه کې تلوار کوي؟

وايي موږ ورته وويل: چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دی.

عائشې رضي الله عنها راته وويل: بلکل همدغسې رسول الله ﷺ هم کول.

**يعني:** رسول الله ﷺ هم په روژه ماتي او د ماښام په لمانځه کې تلوار کاو، خو افسوس زموږ په حال چې، د رسول الله ﷺ له قول او عمل څخه نا خبره يو، او د پرېزګارۍ او بزرګۍ په جامه کې د هغه ﷺ د کړنلارې خلاف عمل کوو.

زه په کلي کې د جومات امام يم، بيا ډېر کله د روژې په مياشت کې زموږ جومات ته د روژماتي د ټاکل شويو وختونو جدول راځي، په دغه جدول کې د لمر لوېدلو د اصلي وخت برسېره پنځه دقيقې احتياطاً وخت هم اضافي ورکړل شوی وي بيا موږ پر دې پنځو دقيقو هم وخت ور اړوو او آذان کوو خو بيا هم له شاوخوا نه د ځينو خلکو او سپينږيرو مشورې او نصيحتونه راځي چې اذان وختي مه کوئ.

دغه زموږ د مسلمانانو په دين پوهه او د رسول الله ﷺ لاره تعقيبول دي چې د يهودو په شان له ځانه يو شی جوړو او بيا يې په کولو ځانته د پرهېزګارۍ احساس هم ورکوو.

نعوذ بالله

[١٠٣] [صحيح مسلم: حديث شمېره: ١٠٩٩ ]

ketabton.com - The Digital Library



## اووه ويشتم عمل

### يهود يو تحريف كوونكي قوم وو

يهوديانو تورات تحريف كړ، او په مسلمانانو كې پخوا او اوس روافضو او داسې نورو ډېرو اسلام ته منسوبو باطلو فرقو قرآن تحريف كړى دى، او روافض د يهودو په څېر د "مسح موزو (خفينو)" قايل نه دي.

لكه څرنګه چې الله عزوجل د دوى په اړه فرمايي: ﴿مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَقْوَمَ وَلَٰكِن لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا﴾[۱۰۴]

ژباړه: د يهودانو ځيني كسان داسې دي چې الفاظو ته له خپلو ځايونو څخه تغيير وركوي- او وايي: «موږ واورېدل او مو نه منل، او واوره، په داسې حال كې چې اورول شوى نه يې.» او د حق دين پر خلاف د نېښ وهلو لپاره خپلې ژبې اړوي رااړوي- او وايي: «راعنا = ته زموږ شپون يې». په داسې حال كې چې كه هغوى ويلي واى «موږ واورېدل او و مو منل، او واوره او پر موږ نظر لره.» - نو دا به د هغو لپاره غوره او ډېره سمه لاره وه؛ خو پر هغو باندې د خپلې باطل پرستۍ له امله لعنتونه ورېدلي دي، له دې كبله هغوى ډېر لږ (خلک) ايمان راوړي.

افسوس چې اسلام ته منسوبو فرقو هم د قرآن كريم رنګارنګ تحريفونه كړي دي چې د يو څو نومونه به يې دلته وليكم حال دا چې داسې فرقې زياتې دي:

**۱. غالي روافض (افراطي شيعه):** سيمه: ايران، عراق، لبنان، يمن، بحرين.

د تحريف ډول: لفظي تحريف (دعوه كوي چې آيتونه حذف يا بدل شوي). د آيتونو د كمښت دعوه؛ د دوى په ځينو پخوانيو كتابونو كې دا دعوه راغلې چې: د علي رضى الله عنه په اړه آيتونه حذف شوي، اوسنى قرآن «ناقص» دى.

د دوى مشهور مصادر چې دا دعوه پكې راغلې: الكافي (كليني)، فصل الخطاب (نوري طبرسي).

[۱۰۴] [سُورَةُ النِّسَاء : ٤٦]

ketabton.com - The Digital Library



ننني ځيني معتدل شيعه دا عقيده ردوي، خو دا نظريه د دوی په پخوانيو متونو کې شته.

**۲. منکرين حديث:** دوی وايي چې قرآن شته نو حديثو ته څه اړتيا ده. خو دا خبره ياد ساتل په کار دي چې نن سبا په يو او بل نوم ښه ښه علماء هم تورنيږي لکه منکر حديث، وهابي، سلفي، بل او بل په داسې حال کې چې هغه نه منکر حديث وي نه وهابي وي نه بل نه بل خو بس ډيری هغه خلک چې په دين يې تجارت شروع کړی وي په حق پرستو علماوو داسې تورنه لګوي او عوام خلک په خپل جال کې را ګيروي.
سيمه: مصر، پاکستان، هند، ځيني عربي هېوادونه.

**۳. باطنيه / اسماعيليه:** سيمه: پخوا: شام، ايران، اوس: هند، پاکستان، تاجکستان.
د تحريف ډول: باطني (پټ) تحريف، د ظاهري معنا لغوه کول، وايي قرآن ظاهري معنا نه لري، يوازې امام يې اصلي معنا پېژني، د شريعت عملي ارزښت له منځه وړي.

**۴. قاديانيه (احمديه):** سيمه: پاکستان (مرکز)، هند، افريقا، اروپا، د تحريف ډول: معنوي تحريف، د ختم نبوت انکار د تفسير له لارې، د «خاتم النبيين» ناسم تاويل، آيتونه د نوي نبوت د اثبات لپاره اړوي، که څه هم د لفظي تحريف دعوه نه کوي، خو عقيده تحريفوي.[۱۰۵]

**۵. معتزله (ځيني نظريات)**

**۶. صوفي غلات (افراطي صوفي فرقې):** سيمه: هند، پاکستان، ترکيه، شمالي افريقا
د تحريف ډول: اشاري/ذوقي تحريف کومو ته چې د تفسير معارف القرآن په مقدمه کې د "تدبر او استنباط" تر عنوان لاندې اشاره شوې ده، ليکي چې: د قرآن نکتې او اسرار يو نايابه درياب دی، کوم چاته چې الله ﷻ په اسلامي علومو کې بصيرت ورکړی وي هغه چې څومره په دې کې غور او فکر کوي. دومره په دې کې نوي رازونه او نکتې مخ ته راځي همدارنګه مفسرين کرامو د خپل تدبر نتيجې هم په خپلو تفسيرونو کې بيان کړې دي. ليکن دا رازونه او نکتې هغه وخت د قبليدو قابلې وي کله چې د دغو ذکر سوو پنځو ماخذونو سره يې ټکر نه وي. نوکه چا د قرآن شريف تفسير کې څه داسې

[۱۰۵] [فتاوي فريديه: ج۱/ص۱۴۵]

ketabton.com - The Digital Library



نکته یا اجتهاد بیان کړ کوم چې د قرآن شریف او سنت، اجماع، لغت یا صحابه رضي الله عنهم او تابعینو رحمهم الله د اقوالو څخه خلاف وي یا د یو بل شرعي اصل سره په ټکر کې وي. نو د دې هیڅ اعتبار نسته. ځینو صوفیانو په تفسیر کې د دې قسم رازونو او نکتو بیانول شروع کړي و، لیکن د امت محققو عالمانو دغه قابل اعتبار نه دي ګڼلي ځکه چې د قرآن شریف او سنت او شریعت بنیادي اصولو خلاف د یو شخص رایه ظاهره ده چې هڅ حیثیت نه لري.[106]

**۷. ځینې شیعة (روافض):** هغوی دا دعوه لري چې قرآن تحریف شوی دی آن لا په پیل کې تحریف شوی دی او په دې اړه دوی ډېر کفریات وایي صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته بد نسبتونه کوي او په دې اړه یې لیکنې کړې دي د مثال په ډول: «تِلْكَ أَئِمَّةٌ أُخْرِجَتْ...» دا جمله د غالی روافضو د تحریفي دعوو له جملې څخه ده، چې دوی یې د قرآن ځینو آیتونو ته منسوبوي. دقیق وضاحت یې داسې دی: اصل قرآني آیت: ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾[107]

ژباړه: تاسو تر ټولو غوره امت یاست چې د خلکو لپاره را ایستل شوي یاست.

د روافضو تحریفي دعوه: ځینو غالی شیعه فرقو ادعا کړې چې آیت اصلاً داسې و: ~~«كُنْتُمْ خَيْرَ أَئِمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ»~~ یا «~~تِلْكَ أَئِمَّةٌ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ~~»

یعنې: «تاسو غوره امامان یاست چې د خلکو لپاره راایستل شوي یاست»

دا تحریف ولې کوي؟ هدف یې دا دی: چې دا د فضیلت آیت له امت څخه واخلي او یوازې یې په ائمه (علي او اولاد) پورې محدود کړي، د امامت عقیده د قرآن له لارې جبري ثابته کړي.

د تحریف ډول: لفظي تحریف: (أُمَّة)، (أَئِمَّة) ته.

همدارنګه عقیدوي تحریف هم کوي ځکه: آیت د ټول امت ستاینه کوي، دوی یې په څو اشخاصو پورې تړي.

---

[106] [د معارف القرآن مقدمه: ج۱/ص۳۸، په حواله د اتقان: ۲ /۱۸۴]
[107] (آل عمران: ۱۱۰)

ketabton.com - The Digital Library


په داسې حال کې چې دا آیت په ټولو مصاحفو کې یوازې (أُمَّة) دی. په سبعه او عشره قراءاتو کې د (أئمة) هیڅ اثر نشته. ټول مفسرین (طبري، ابن کثیر، قرطبي...) پر دې متفق دي چې: آیت د ټول امت محمد ﷺ په حق کې نازل شوی، حتی ډېر شیعه علما دا ډول دعوې غلو او باطلې بولي.

دا ډول او دېته ورته عبارتونه په دې کتابونو کې موندل کېږي: فصل الخطاب في تحریف کتاب رب الأرباب – نوري طبرسي

**یادونه:** دا کتابونه نه اهل‌سنت مني، نه یې ډېری شیعه علما.

له هغو ټولو آیتونو څخه چې په قرآن کې د یهودو د تحریف په اړه راغلي، دا څرګندېږي چې هغوی د خپل آسماني کتاب په تحریف کې بېلابېلې لارې کارولې: ځینې وخت به یې معنوي تحریف کاوه؛ یعنې هغه عبارت چې په خپل کتاب کې نازل شوی و، د اصلي مانا خلاف به یې تفسیر کاوه، الفاظ به یې پر خپل حال پرېښودل خو ماناوې به یې بدلې کړې.

او ځینې وخت به یې لفظي تحریف هم کاوه؛ د ملنډو او استهزا له مخې به یې د دې پر ځای چې ووایي: سمعنا وأطعنا (وا مو ورېدل او اطاعت مو وکړ)، ویل: سمعنا وعصینا (وا مو ورېدل او مخالفت مو وکړ).

د اهل السنة والجماعة دا کلکه او محکمه عقیده ده چې قرآن بلکل په خپل شان لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ له خولې اورېدل شوی دی له هر ډول لفظي او معنوي تحریف څخه محفوظ دی، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمایي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾[١٠٨]

ژباړه: پاته شو دا ذکر (قرآن)، دا موږ نازل کړیدی او موږ په خپله ددې ساتندویان یوو.

تفسیر: یعني ستاسې استهزاء او تعنت ،او د قران راوړونکي ته د لیونې نسبت کول په قران عظیم او د هغه په حامل قطعا هیڅ اثر نشي اچولی، پوه شئ چې د دغه پاک قران نازلوونکي مونږ یو او مونږ د دغه مبارک قران هر قسم حفاظت او ساتنه پخپله ذمه

[١٠٨] [سورة الحجر: ٩]

ketabton.com - The Digital Library



اخیستې ده په هغه شان او هیئت سره چې هغه نازل شوي دي، او په کامل صحت بې له لږ تغیر، تبدیل ، تحریف او د زور، زیر، پیښ اونورو اړولو او رااړولو څخه ګرد عالم ته رسیدلې دی او وروسته له دې نه هم رسیږي او ترقیامت پورې به له هر راز لفظي او معنوي تحریف څخه محفوظ اومصئون وي ، هر څومره چې زمانه بدله شي ،خو قراني اصول او احکام به نه بدلیږلي ، د ژبې فصاحت او بلاغت او د علم او حکمت باریکۍ هر څومره چې پرمختګ او ترقي وکړي ، خو د پاک قران په صورې او معنوي اعجازکې به له سره ضعف او انحطاط رانشي ، ډېر قومونه او سلطنتونه به د قران د غبږ په مَحْوَ کولو او غلې کولو یا ورک کولو کې ډیر زیار وباسي ،لیکن د هغه به یوټکې هم ترې لرې نه کړای شي، د عظیم الشان قران د حفاظت اوساتنې په باره کې د الله تعالی دغه ټینګه وعده په داسې لطیفه او حیرانوونکې طریقې، تکمیل او پوره شوې ده او پوره کیږي به چې د هغې په لیدلو سره متعصبو او مغرورو مخالفانو د تسلیم سرونه ورته ښکته کړل،

(( میور)) وائي: تر هغه ځایه پورې چې مونږ معلومات لروپه ګرده د نیا کې هم داسې یو کتاب نشته چې د قران په شان په دولسو سوو کلونو کې له هرډول تحریف نه پاک اوسپیڅلې پاتې وي ))

یو بل اروپایي محقق لیکي مونږ په هغه یقین سره قران هوبه هو د محمد ص د خولې وتلې الفاظ ګڼو لکه چې مسلمانان یې د خدای کلام ګڼي، واقعات دا راښیې چې په هره زمانه کې د علماو داسې لوېې لوېې ډلې موجودې وي ( چې شمیر یې الله تعالی ﷻ ته معلوم دی ) چې تل یې د دغه لوی قران د علومو او مطالبو او بې شمیره عجائبو حفاظت کړی دی او کاتبانو د رسم الخط قاریانو د اداء د طرز او حافظانو د ده د الفاظو او دعباراتو داسې حفاظت کړی دی چې د نزول له وخت نه تراوسه پورې د هغه یوه فتحه یا کسره یاضمه یا نور هم نه دي تبدیل شوی ، ځینو خدای ببښلو د قران رکوع ګاني شمیرلي دي ځینو د هغه ایتونه حساب کړي دي، ځینو د هغه د حرفونو، تعداد راښودلی دی حتی چې ځینو د هغه یو یو اعراب او یو یو ټکی هم شمیرلی دی د رسول الله ﷺ له زمانې څخه ترنن ورځې پورې هیڅ یوشیبه اوکړی به داسې نه وي تیره شوی چې په هغې کې د زرګونو او لکونو په شمېر د پاک قران حافظان موجود نه

ketabton.com - The Digital Library



وي فکر وکړئ چې زیاتره زمونږ د مسلمانانو یو اته یالس کلن کوچنی هم لږ ترلږه د پاک قران خو سورتونه چې متشابهات هم لري او د دوی لپاره یوه پردۍ ژبه ده داسې په یاد لري چې په ښه ډول سره يې لوستلای او اورولای شي حال داچې دوی په خپله ژبه کې د کوم پوخ عالم حافظ څخه د قران کوم حرف پاتې شي یایې په اعراب کې څه ګډوډي ترې واقع شي نو یوورکی هم ده ته فتح ورکوي اوپرې انتقاد نیولی شي حتی چې له څلورو خواؤ پرې د تصحیح غږونه کیږي او امکان نه لري چې هغه لوستونکی همغسې پخپل سر او غلطۍ کې پرېږدي د لوی قران د حفظ په متعلق همدغه اهتمام اواعتناء د نبوت په عهد کې ګردو خلکو لیدلو او د همدغه حفاظت په لورې پاک الله تعالی ج په (إِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ) کې اشاره کړې ده او د هغه وخت د منکرانو پام يې دغه حفاظت ته وراړولی دی.[109]

## اته ویشتم عمل

### مشرکان برېتونه پرېږدي او ږیرې خریي

له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی، وایي رسول الله ﷺ وفرمایل:

«أَعْفُوا اللِّحَى، وَخُذُوا الشَّوَارِبَ، وَغَيِّرُوا شَيْبَكُمْ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَالنَّصَارَى».[110]

ژباړه: ږیرې (اوږدې) پرېږدئ، او برېتونه واخلئ (کم يې کړئ)، او خپل سپین وېښتان مو تغیر (بدل) کړئ!

یعني: ږیرې پرېږدئ مه يې خرېیئ او مه يې هم وهئ او لنډوئ او برېتونه بیا کم کړئ دومره يې مه غځوئ چې پر شونډو مو واوړي، او سپین وېښتان مو همداسې سپین مه پرېږدئ تغیر يې کړئ او رنګ ورکړئ، او له یهودانو سره ځان مه برابروئ!.

یهودان خپلې ږیرې همداسې سپینې پرېږدي لکه څرنګه چې وي رنګ نه ورکوي لکه څرنګه چې په دې حدیث کې ورته اشاره شوې ده:

«إِنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى لَا يَصْبُغُونَ فَخَالِفُوهُمْ»[111]

[109] [تفسیر کابلی: ج ۱/ص ۱۴۷۴ - ۱۴۷۵]
[110] [مسند أحمد: حدیث شمېره: ۸۶۷۲]
[111] [صحیح البخاري: حدیث شمېره: ۳۴۶۲]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: بېشکه چې یهود او نصارا خپلې ږیرې نه رنګوي نو تاسې له هغوی سره مخالفت وکړئ!.

د شرح معاني الآثار په ۶۵۶۰ مه شمېره روایت کې راغلي: چې رسول الله ﷺ فرمایلي:
«أَحْفُوا الشَّوَارِبَ , وَأَعْفُوا اللِّحَى». [112]

ژباړه: برېتونه کم کړئ او ږیرې اوږدې کړئ!

د دې حدیث پسې په ۶۵۶۲ روایت کې له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ همدا خبره وکړه او دا یې هم پسې زیاته کړه چې: له یهودو سره مشابهت مه کوئ: «وَزَادَ وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ» [113]

مشرکانو به خپل برېتونه پرېښودل او ږیرې به یې خریلې؛ له همدې امله رسول الله ﷺ مسلمانانو ته امر وکړ چې برېتونه لنډ کړي او ږیرې پرېږدي. خو تاسو به لیدلي وي چې ځینې مسلمانان د مشرکانو سره مشابهت کوي؛ داسې چې برېتونه پرېږدي او ږیرې خریي.

نو ګیله له هغو مسلمانانو ده چې د الله او د رسول الله ﷺ د پیروۍ دعوه کوي، او بیا یې له حکم او امره هم سرغړونه کوي.

له حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:
«خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ، وَفِّرُوا اللِّحَى، وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ ". وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ، قَبَضَ عَلَى لِحْيَتِهِ، فَمَا فَضَلَ أَخَذَهُ.» [114]

یعنې:«د مشرکانو مخالفت وکړئ؛ ږیرې اوږدې کړئ او برېتونه لنډ کړئ او ابن عمر رضي الله عنه به چې کله حج یا عمره وکړه، نو خپله ږیره به یې په موټي کې ونیوله نو کومه اندازه به چې له موټي او قبضې زیاته شوه هغه به یې واخیستله یاني پرې به یې کړه.»

او په صحیح مسلم کې راغلي دي:

[112] [شرح معاني الآثار -ط مصر: ج۴ /ص ۲۳۰ روایت شمېره: ٦٥٦٠ - ٦٥٦٢]
[113] [شرح معاني الآثار -ط مصر: ج۴ /ص ۲۳۰ روایت شمېره: ٦٥٦٢]
[114] (صحیح البخاري: ۵۸۹۲، ـ مسلم: ۲۵۹)

ketabton.com - The Digital Library



«جُزُّوا الشَّوَارِبَ، وَأَرْخُوا اللِّحَى، خَالِفُوا الْمَجُوسَ»[115]

يعني: «بريتونه پرې کړئ، ږيرې پرېږدئ، او په دې کار سره د مجوسيانو مخالفت وکړئ.»

## دږيري او بريتو په اړه يو څو مسئلې:

**مسئله:ـ** د بريتو کوچني کول د شونډانو تر سرو پورې (يعني چې د شونډانو سرونه معلومېږي. د شونډانو سرونه بايد په وربښتانو کې پټ نه وي) دا سنت دي» ځينې فقهاء د بريتو خرييلو ته بدعت وايي او ځينو بيا د بريتو خريلو ته اجازه ورکړې ده. له همدې امله يې نه خريبل ښه دي.

**مسئله:ـ** د بريتو که چيرې دواړه خواوې غتې وي پروا نه لري. په دې شرط هغه چې د شونډانو پر سر دي بايد غټ نه وي.

**مسئله:ـ** د ږيرې خريبل يا کوچني کول حرام دي. که چيرې تر يوه موټ زياته وي. کوچني کول ئې پروا نه لري، دا ډول د ځلورو طرفو څخه په داسې اندازه کوچني کول چې برابر او ميانه وي.[116]

## نهه ويشتم عمل

### يهودو به په داسې جامو کې لمونځ کاوه چې د عورت د ښکاره کېدو سبب کېده

يهوديانو به په يوه جامه کې لمونځ کاوه. پرته له عذره په يوه جامه کې لمونځ کول د يهودو عمل دی. مسلمان ته پکار نه ده چې په يوه جامه کې لمونځ وکړي. د يوې جامې لمونځ کولو مطلب دا دی چې سړی بله جامه و نه لري او يوازې په داسې جامه لمونځ وکړي چې ټول بدن پټ کړي، خو خاص اندام (عورت) يې ښکاره شي.

له امام زهري رحمه الله څخه روايت دی چې:

«أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُلْتَحِفًا بِهِ، فَقَالَ: لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ، وَإِذَا لَمْ يَجِدْ أَحَدُكُمْ إِلَّا ثَوْبًا وَاحِدًا فَلْيَتَّزِرْ بِهِ»[117]

---

[115] (صحيح المسلم: حديث شمېره: ۲۶۰)

[116] [په اسلام کې د ږيرې حکم: اشرف على تهانوي (رح): ص۵، پوهه خپرندويه ټولنه کندهار ]

[117] [كنز العمال: ج۸/ ص۱۷: روايت شمېره: ۲۱۶۶۶]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: «عمر بن الخطاب رضي الله عنه يو سړی وليد چې په يوه جامه کې ځان نغښتی لمونځ کوي. نو عمر رضي الله عنه ورته وويل: ځان د يهودو سره مه مشابه کوئ. او که له تاسو څخه کوم يو يوازې يوه جامه ولري، نو هغه دې د لُنګ په توګه وتړي او ښه دې ټينګه کړي.»

او عبد الله بن عمر رضي الله عنه به ويل:

«إِذَا لَمْ يَكُنْ لِلرَّجُلِ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ، فَلْيَأْتَزِرْ بِهِ، ثُمَّ لِيُصَلِّ، فَإِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ ذَلِكَ»[118]

ژباړه: که له سړي سره يوازې يوه جامه وه، نو له هغې دې لنګ وتړي او بيا دې لمونځ وکړي ځکه چې ما له حضرت عمر رضي الله عنه څخه اورېدلي و چې همداسې يې ويل.

نو که له چا سره جامه وي او لمونځ په داسې جامه کې کوي چې د عورت يا شرم اندام د ښکاره کېدو لامل ګرځي بيا خو يې لمونځ نه کېږي ځکه چې د عورت پټول فرض او د لمانځه لپاره شرط دی.

خو که يوازې دومره جامه وي چې د عورت د پټېدلو لپاره بسنه کوي نو لنګ به وربانديې ووهي او لمونځ به وکړي.

نو مسلمان ته پکار ده چې ځان د يهودو سره مشابه نه کړي، بلکې په داسې جامه لمونځ وکړي چې د ده د عورت د ښکاره کېدو سبب نه شي.

## ديرشم عمل

### يهود د جبرائيل عليه السلام سره دښمني لري

يهوديان له جبرائيل عليه السلام سره دښمني لري او وايي: له پرښتو څخه جبرائيل زموږ دښمن دی. همدارنګه روافض وايي چې جبرائيل عليه السلام په تېروتنه سره د علي رضي الله عنه پر ځای پر محمد ﷺ وحی نازله کړې ده.

الله عزوجل د دوی په اړه فرمايي:

[118] [مسند احمد: حديث شمېره: ۹۶]

ketabton.com - The Digital Library



﴿قُلْ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾[119]

ژباړه: دوی ته ووايه: "کوم څوك چې له جبرئيل (ع) سره دښمني لري، هغه دي په دې وپوهيږي چې جبرئيل (ع) د الله په اجازه دا قرآن ستا زړه ته رسولی دی، چې د پخوانيو راغليو کتابونو تصديق او تاييد کوي او د مؤمنانو لپاره (لارښودنه او د بري) د زيري ورکونکی دی."

او همدارنګه الله ﷻ فرمايي:

﴿مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِّلْكَافِرِينَ﴾[120]

ژباړه: (که له جبرئيل (ع) سره د دوی د دښمنۍ سبب همدا وي، نو ورته ووايه) "څوك چې د الله او د هغه د پرښتو او د هغه د پېغمبرانو او د جبرئيل (ع) او ميکائيل (ع) دښمن وي، نو الله ددې کافرانو دښمن دی."

## يو ديرشم عمل

### نصارا له مهر پرته له خپلو ښځو سره مقاربت کوي

دا هغه عمل دی چې زموږ افغاني ټولنه هم ورباندې ککړه ده، او ډېری خلک شته چې خپلو مېرمنو ته مهر نه ورکوي، آن لا داسې هم شته چې لس، دولس اولادونه يې کړځي خو مهر يې لا خپلې مېرمنې ته نه وي سپارلی.

روافض په يوه بله ځانګړنه کې هم له نصاراوو سره مشابهت لري، او هغه دا چې د نصاراوو ښځې مهر نه لري، او له مهر پرته له خپلو ښځو سره مقاربت کوي. همدارنګه روافض خپلې ښځې د متعې نکاح کوي او هغه ځان ته حلاله ګڼي.

له بده مرغه، د دې زمانې ځينې مسلمانان هم دا کار کوي؛ هېڅکله خپلې ښځې ته مهر نه ورکوي، او که يې ورکوي هم، نو يوازې د طلاق پر مهال يې ورکوي، حال دا چې د ښځې له فرج څخه د استمتاع حلالېدل د مهر په ورکړه پورې تړلي دي.

[119] [سُورَةُ البَقَرَة: ۹۷]
[120] [سُورَةُ البَقَرَة: ۹۸]

ketabton.com - The Digital Library



سعید بن مسیب رحمه الله وايي: «عن عمر قال: إذا أغلق بابا وأرخى سترا وجب عليه الصداق، وعليها العدة، ولها الميراث.»[121]

یعني: عمر بن الخطاب رضي الله عنه داسې وویل: «هر کله چې ورونه بند شي او د واده پرده ښکته شي (یعني زوجین خلوت ته داخل شي)، نو په خاوند مهر واجب ګرځي، او پر ښځه باندې عدت هم لازم دی، او د هغې لپاره د خاوند په مال کې میراث هم ثابت (شته) دی»

**شیخ‌الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وايي:** یهود او نصارا په دوو شیانو کې له شیعه‌وو (روافضو) ښه غوره دي.

له یهودو وپوښتل شول: ستاسو له یهودیانو ښه تر ټولو غوره خلک څوک دي؟

هغوی وویل: د موسی علیه السلام اصحاب او یاران.

او له نصارا وپوښتل شول: ستاسو تر ټولو غوره خلک څوک دي؟

هغوی وویل: د عیسی علیه السلام حواریین.

او له روافضو وپوښتل شول: ستاسو د دین تر ټولو بد خلک څوک دي؟

هغوی وویل: د محمد ﷺ اصحاب.[122]

د موطا امام مالك روایت دی: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَضَى فِي الْمَرْأَةِ إِذَا تَزَوَّجَهَا الرَّجُلُ، أَنَّهُ إِذَا أُرْخِيَتِ السُّتُورُ ؛ فَقَدْ وَجَبَ الصَّدَاقُ.[123]

یعني: عمر بن الخطاب رضي الله عنه د ښځې د مهر په اړه داسې پرېکړه کوله: «هر کله چې ورونه بند شي او د واده پرده ښکته شي (یعني زوجین خلوت ته داخل شي)، نو مهر واجب ګرځي.»

خو افسوس زموږ په حال زه چې څومره خبر یم زموږ پر ټولنه کې به ډېر کم پېښ شوي وي چې کوم چا دې په خپل وخت مېرمنې ته مهر ورکړی وي، آن لا دا هم کېدای شي

[121] [کنزالعمال: ج۱٦/ص۵۰۲: روایت شمېره: ۴۵٦۳۸]

[122] (منهاج السنة: ۲۴/۱)

[123] [موطأ مالك: حدیث شمېره: ۱۵۰۷]

ketabton.com - The Digital Library



چې دويم ځل بيا نکاح شوي وي خو مهر لا نه وي ورکړل شوی، نو دا د اسلام ښوونه او د مسلمانانو کړنلاره نه ده.

او د ميراث په اړه چې زه څومره دقيق خبر يم اورېدلي او ليدلي مو دي نو هيڅ چا هم کونډې ته د هغې د خاوند په ميراث کې برخه نه ده ورکړې، که چا ورکړې هم وي داسې به ډېر کم پېښ شوي وي، دا خو لا څه کوې چې ميراث ورکړي بلکې د جهالت د زمانې د خلکو په شان خپله دا ښځې دوی خپل د ميراث حق ګڼي ياني دا ښځې دوی د ميراث شوي مال په څېر د ځان حق بولي او دا داسې يو حقيقت دی چې د لمر په شان روښانه او څرګند دی.

ډېری داسې خلک هم شته او پېژنم يې چې ځانونو ته علماء او ملايان هم وايي خو د خپلې خور د ميراث حق ورکول له خپل ځان سره د ظلم بولي ياني دوی وايي چې دغه زموږ خور ظالمه ده، دا هو لا څه کوې چې د ميراث حق يې ورکړي. زه پېژنم داسې خلک چې له خپلو خوربيونو او خور سره يې د ميراث په سر کلونه کلونه سولې او مرکې رواني دي او لا تر اوسه يې هم نه دی ورته سپارلی.

دا زموږ د ټولنې حال دی، نو څرنګه به موږ د الله ﷻ په عذابونو نه اخته کيږو.

## دوه ديرشم عمل

### له توحيد څه ګرځېدل او د خوسکي (خوسي) عبادت شروع کول

کله چې الله ﷻ رود نيل څيرې کړ او دغه قوم بني اسرائيلو له فرعونيانو څخه نجات وموند او بيا په داسې حال کې چې دوی پخپلو سترګو ليدل چې فرعونيان په دې سيند کې غرق شول. بيا چې کله موسی عليه السلام د الهي فرمان (تورات) د اخيستلو لپاره ميعاد (په کوم ځای کې چې الله ﷻ له ده سره وعده کړې وه ياني د طور غره ته) ولاړ، نو دغو بني اسرائيلو د خوسکي عبادت پيل کړ، لکه څرنګه چې الله ﷻ د هغوی بيان کوي او فرمايي: ﴿وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ﴾[۱۲۴]

[۱۲۴] [سُورَةُ البَقَرَة : ۵۱]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او هغه وخت (یاد کړئ) چي کله موږ موسی (ع) د څلوېښتو شپو او ورځو په ژمنه راوغوښت، نو تاسي د هغه په شا پسي خوسکی په خدایۍ ونیو. په هغه وخت کښي تاسي له حده ډېر زیات تېرى کړى ؤ.

خو بیا کله چي موسی علیه السلام دوی ته وویل چي ایمان راوړئ، نو دوی وویل: تر څو چي موږ الله ﷻ په ښکاره ونه وینو نو ایمان نه راوړو، لکه څرنګه چي قرآن فرمایي: ﴿وَإِذْ قُلْتُمْ يَٰمُوسَىٰ لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى ٱللَّهَ جَهْرَةً فَأَخَذَتْكُمُ ٱلصَّٰعِقَةُ وَأَنتُمْ تَنظُرُونَ﴾[125]

ژباړه: او هغه وخت چي کله تاسي موسی (ع) ته ویلي ول: "موږ به ستا په خوله تر هغه باور ونه کړو، تر څو چي په خپلو سترګو به څرګنده توګه خدای (له تا سره په خبرو کولو) ونه وینو." ـ هغه وخت تاسي په ړنو سترګو کتل چي یوه قوي تندر (اور) درته راغی، تاسي بې روحه غورځېدلي واست.

البته یو عمل د یهودو له اعمالو څخه د تصوف خلک هم تر سره کوي چي په وجد کي راځي او ګډېږي، لکه څرنګه چي امام قرطبي (رح) په سورة طه کي ویلي: وَأَمَّا الرَّقْصُ وَالتَّوَاجُدُ فَأَوَّلُ مَنْ أَحْدَثَهُ أَصْحَابُ السَّامِرِيِّ، لَمَّا اتَّخَذَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَهُ خُوَارٌ قَامُوا يَرْقُصُونَ حَوَالَيْهِ وَيَتَوَاجَدُونَ، فَهُوَ دِينُ الْكُفَّارِ وَعُبَّادِ الْعِجْلِ.[126]

ژباړه: ګډا او وجد (شوق ښکاره کول) او څوک چي دا کارونه یې راپیدا کړل هغه د سامري ملګري وو، کله چي دغه سامري د هغوی لپاره د خوسکي بت جوړ کړ چي له هغه څخه د غوایي رمباړه راوته، دوب به د دې بت شاوخوا ګډېدل او وجد به یې کاوه یاني شوق به یې ښکاره کاوو، دا د کفارو او خوسکي پرستانو دین او دی.

## دره دېرشم عمل

### یهودان د ځمکي په سر تر ټولو ناشکره طایفه ده

الله ﷻ په وار وار هغوی ته د رحمت او مهربانۍ په نظر وکتل، او هغوی یې د خپلي مهربانۍ او لورونې وړ وګرځول، لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمایي: ﴿وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ ٱلْغَمَامَ

[125] [سُورَةُ البَقَرَة : ٥٥]

[126] [تفسیر القرطبي: ج ١١/ ص ٢٣٨]

ketabton.com - The Digital Library



وَأَنزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ۖ كُلُوا مِن طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۖ وَمَا ظَلَمُونَا وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾[127]

ژباړه: موږ وريځ پر تاسي سيوري کړه، د من او سلوی خوړه مو درته برابر کړل او درته و مي ويل: "کوم پاك شيان چي موږ تاسي ته روزي کړيدي، هغه خورئ." ـ خو ستاسي پخوانيو چي څه وکړل، هغه پر موږ ظلم نه ؤ؛ بلکي هغو خپله پر خپل ځان ظلم وکړ.

تفسير: ترنجبين او مرزان: کله چي فرعون ډوب شو اوبني اسرائيل د الله تعالی په امر له مصر نه دشام په لوري رهي شول ، په يوه سپېره ډاک کي دهغوی خېمي وشلېدي اودوی د لمر له تودوالي نه سخت په عذاب شول، دلته دالله تعالی (ج) په فضل سره دوی باندي د وريځي سيوری وشو، ځرنګه چي دوی ته دخوړلو له پاره څه شی نه پيداکېده، د پاک الله (ج) له لوري ددوی دخوړلو له پاره ( مَنْ ) او ( سلوی ) ورنازل شول، ( من) لکه نبات يو ډېر خواږه خواړه وو، اوداني به يي ترنجبين (دځوزو ګوړي ) ته ورته وي، کله چي دوی د شپي له مخي ويده کېدل سحر ( ګهيځ ) به ددي لښکر په شاوخوا کي د ( من ) انبارونه پراته وو، چي هرچا به له هغه څخه له خپل حاجت سره سم اخيسته، ( سلوی ) يو مرغه دی چي مونږ ورته مرغ وايو، چي هرمابنام به ددي مرغانو په زرهاوو داني سره ټولېدلي چي دلږڅه تياري څخه وروسته به هرسړي له هغو څني دخپل ضرورت سره سم نيول، وريتول اوخوړل به يي، ترډېري مودي پوري ددوی خواړه همدا ( من ) او ( سلوی ) وو.

﴿طَيِّبَات مَا رَزَقْنَاكُمْ﴾

(تفسير: (خورئ تاسي له پاکيزه دهغو شيانو څخه چي روزي درکړي ده مونږ تاسي ته ) يعني په دي لطيفي اوخوندوري غذا باندي اکتفاء وکړئ اوپه ډېره خوښی سره يي وخورئ! اود بلي ورځي له پاره يي د ذخيري ( زېرمي ) په ډول مه ساتئ! او له نورو سره دهغه د مبادلي غوښتنه مه کوئ!

﴿وَمَا ظَلَمُونَا وَلَكِن كَانُواْ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾(٥٧))

[127] [سُورَةُ البَقَرَة : ٥٧]

ketabton.com - The Digital Library



((تفسير: او ظلم نه وکړی دوی پر مونږ باندې هيڅ په دغه عصيان سره ، لېکن دوی په خپلو ځانو باندې ظلم کوي، په کفران اوعصيان سره اول يې داسې ظلم وکړ چې ددې په زېرمه کولو يې پيل وکړ چې هغه به ورستېده ، تعفن ( ډېوزې ) به يې ختلې، دوهم يې دهغې دمبادلې غوښتنه وکړه چې نسک، هوږه، پياز اونورې غلې او ترکاري ( ترکودی ) راکړی شي، چې ددې له امله په راز راز ربړونو اخته شول.[128]

## ځلور دېرشم عمل

### يهود يو بهانه ګير قوم و، او په خپل دين کې به يې غلو (له حده زياته مبالغه او افراط کاو

د غوا په اړه د هغوی کيسه ډېره مشهوره ده، او د قرآن کريم يو سورة هم د هغې په نوم (سورة البقرة) باندې نومول شوی دی.

کله چې يې يو سړی ووژه نو هغوی ته يوازې دا ووېل شول چې غوا راپيدا کړئ، خو دوی مبالغه وکړه او پوښتنې يې پيل کړې، چې په پايله کې په خپله پر دوی سخته شوه، پخپله يې ځانته مشکل جوړ کړ، لکه څرنګه چې الله ﷻ د هغوی بيان کړی دی او فرمايي:

﴿قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّن لَّنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَابَهَ عَلَيْنَا وَإِنَّآ إِن شَآءَ اللَّهُ لَمُهْتَدُونَ﴾[129]

ژباړه: بيا يې ووېل: "له خپل رب څخه دې ښه څرګنده پوښتنه وکړه چې راوښيې څنګه غوا مقصد ده، موږ د هغې په سمه پېژندنه کښې په اشتباه کښې لويدلي يوو، که د الله اراده وشي، موږ به هغه ښه وپېژنو."

نو کله چې دوی مبالغه وکړه او پوښتنې يې شروع کړې الله ﷻ هم راګير کړل او ورته وېې ويل:

﴿قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ الْأَرْضَ وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا ۚ قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ ۚ فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ﴾[130]

---

[128] [کابلی تفسير: ج١/ص٣٩]
[129] [سُورَةُ البَقَرَة : ٧٠]
[130] [سُورَةُ البَقَرَة : ٧١]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: موسی (ع) ځواب ورکړ: "الله وايي، هغه داسي غوا ده چي کار ور څخه نه اخيستل کيږي، نه ځمکه کولبه کوي، نه ارهټ ګرځوي، روغه رمټه او بې داغه ده." ــ نو هغو ناري کړې: "هو، اوس دي سمي نښي راوښودلې!" ــ بيا يې هغه حلاله کړه. که نه نو ددي کار کوونکي نه ول.

بېځايه او ډېرې پوښتنې ناسم او نامناسب کار دی، محدثينو د ډېرو پوښتنو د کولو په بدي باندې ځانګړي څپرکي او بابونه راوړي؛ لکه په صحيح مسلم کې د **"باب النهي عن كثرة المسائل من غير حاجة"** په نامه وغيره داسې نور.

له حضرت ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې فرمايل يې:

مَا نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ فَاجْتَنِبُوهُ، وَمَا أَمَرْتُكُمْ بِهِ فَافْعَلُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ ؛ فَإِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَثْرَةُ مَسَائِلِهِمْ، وَاخْتِلَافُهُمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ ". [١٣١]

يعني: رسول الله ﷺ وفرمايل: چې له کوم څه نه مو منع کړم نو له هغه څخه ځانونه وساتئ، او د کوم څه چې حکم درته وکړم له خپل توان سره سم يې ترسره کړئ، پخواني امتونه خپلو ډېرو پوښتنو هلاک کړل، او په خپلو پيغمبرانو باندې د اختلاف په وجه باندې هلاک شول.

## پنځه دېرشم عمل

## د يهودو به چې کوم څه په تبيت برابر و هغه به يې ښکاره کول او کوم څه به يې چې په تبيت نه و جوړ هغه به يې پټول

يهودو به کله ناکله د الله تعالی ﷻ د آيتونو يوه برخه پټوله. هغه څه چې د هغوی د نفس او غوښتنو سره به سم وو، ښکاره کول به يې؛ او هغه څه چې د هغوی د خوښې خلاف وو، پټول به يې. حتی کله به چې اسماني کتاب حاضر هم و، د خلکو د غولولو لپاره به يې خپل لاس د کتاب پر هغه برخه اينبود چې مقابل لوری يې ونه شي لوستلای.

الله عزوجل د هغوی په اړه په قرآن کې فرمايي:

---

[١٣١] [صحيح مسلم: حديث شمېره: ١٣٣٧]

ketabton.com - The Digital Library



﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ﴾[١٣٢]

ژباړه: [اې پیغمبره (ص)!] هغه خلك دې ستا د ځوریدو باعث نه وي چې د کفر په لاره کښې چټك ګامونه اوچتوي. که هغوی له هغو کسانو څخه وي چې په خوله وايي مونږ ايمان راوړی دی، خو د زړه له کومې يې ايمان نه وي راوړی يا له هغو کسانو څخه وي چې يهوديان شويدئ؛ د هغو حال دا دی چې د درواغو لپاره غوږ ږدي، او د نورو خلکو لپاره چې تا ته هيڅکله نه دي راغلي، غوږ باسي، ګرځي راګرځي. (سره له دې چې الله د کتاب (تورات) د الفاظو صحيح ځايونه ټاکلي دي)، د هغو معناوي (حُکمونه) له يو ځای څخه بل ځای ته اړوي را اړوي او خلکو ته وايي چې که تاسي ته دا حُکم درکړ شي نو ويې منئ، که نه نو مه يې منئ. الله چې په فتنه کښې د چا د غورځولو اراده کړې وي، د الله له مواخذې څخه د هغه د ژغورلو لپاره ته هيڅ نه شې کولای. دا هغه کسان دي چې الله يې د زړونو پاکول نه دي غوښتي. د دوی لپاره په دُنيا کښې رسوايي او په اخرت کښې سخت عذاب دی.

**د رجم د حکم پيښه**: امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب صحيح البخاري کې روايت کوي: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي: يو شمير يهوديان رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته ويې ويل چې له دوی څخه يو سړی او يوه ښځه زنا کړې ده. رسول الله ﷺ هغوی ته وفرمايل: "په دې اړه په تورات کې څه حکم راغلی دی؟"

هغوی وويل: موږ به يې رسوا کړو او کوړې (دورې) به ورکړو.

عبدالله بن سلام رضي الله عنه وويل: تاسو دروغ واياست، په تورات کې د رجم (سنګسار) حکم شته.

---

[١٣٢] [سُورَةُ المَائدة : ٤١]

ketabton.com - The Digital Library



نو هغوی تورات راوړ او خلاص يې کړ. له هغوی څخه يوه کس خپل لاس د رجم پر آيت کېښود او مخکې او وروسته آيتونه يې ولوستل. عبدالله بن سلام ورته وويل: لاس دې پورته کړه! هغه چې لاس پورته کړ، نو د رجم آيت ښکاره شو.

هغوی وويل: اې محمده! هغه رښتيا وايي، په تورات کې د رجم آيت شته. په پای کې رسول الله ﷺ امر وکړ، او هغه سړی او ښځه سنګسار شول.

## شپږم دېرشم عمل

### يهود دوه مخي او د نفاق صفت لرونکي وو

الله تعالی ﷻ په قرآن کې فرمايي:

﴿وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُم بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَاجُّوكُم بِهِ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ﴾[۱۳۳]

ژباړه: او کله چې (دا يهودان) د ايمان راوړونکو سره يو ځای شي؛ نو وايي چې موږ هم ايمان راوړی دی. خو کله چې په خپلو منځو کښېني يو له بله سره په ګوښه کښېني خبرې اترې کوي، نو وايي: "(احمقان شوي ياست) چې دوی ته هغه خبرې ورښوئ چې الله تعالی تاسي ته (په تورات کې) درښودلي دي، تر څو چې (دا مؤمنان) ستاسي د رب په وړاندي يې ستاسي په خلاف د دليل په توګه وړاندي کړي؟"

مفسرين وايي چې په دې آيت کې د يهودو دوه جرمونه او دوه جهالتونه ياد شوي دي:

۱. **نفاق**: په ظاهر کې به يې ايمان څرګنداوه، خو ځان د اذيت، ملنډو او وژلو څخه وساتي؛ خو په باطن کې يې ايمان نه درلود.

۲. **له الله څخه د حقيقت پټول**: دوی غوښتل خپل دروني نيتونه له الله څخه پټ کړي، او ګومان يې کاوه چې که پرده واچوي او خبره ښکاره نه کړي، نو (العياذ بالله) الله به پرې خبر نه شي؛ حال دا چې الله تعالی د دوی په ښکاره او پټه هر څه پوهېږي. همدا وجه ده چې قرآن د دوی پټې خبرې هم بيان کړې.

[۱۳۳] [سُورَةُ البَقَرَة : ۷٦]

ketabton.com - The Digital Library



## اووه دیرشم عمل

### یهود جاهل قوم وو

د آیت له انداز او بیان څخه داسې ښکاري چې کیسه داسې وه: د هغوی عام خلک به د ساده‌ګۍ له امله، کله چې به له مسلمانانو سره مخ کېدل، خوشحالي به یې ښودله او د تورات ځینې بشارتونه به یې ورته ویل، یا به یې داسې معلومات ورکول چې مسلمانانو به ترې د خپل پیغمبر ﷺ د نبوت د تصدیق لپاره ګټه اخیسته.

خو د هغوی مشرانو به له دې کاره منع کول او ویل به یې: دا هغه بریا ده چې الله مسلمانانو ته ورکړې ده، موږ باید دا ورته ښکاره نه کړو؛ ځکه همدا بشارتونه چې زموږ په کتابونو کې دي، هغوی به پرې د قیامت په ورځ زموږ پر ضد احتجاج کوي زموږ په ضد به دلایل وایي.

ګویا دوی داسې انګېرله چې که موږ دا بشارتونه مسلمانانو ته ورنه کړو، نو (العیاذ بالله) الله به خبر نه شي چې موسی علیه السلام موږ ته د وروستي پیغمبر د پیروي سپارښتنه کړې ده؛ او چې کله الله خبر نه وي، نو موږ به پرې و نه نیول شو!

حال دا چې الله تعالی پر هر ښکاره او پټ، پر هر نیت او فکر، بشپړ علم لري.

## اته دیرشم عمل

### یهودو به کله ناکله جعلي حدیثونه جوړول

د اسلام ځینو دښمنانو، په ځانګړې توګه ځینو یهودو، د نفاق او حسد له همدې روحیې سره په ظاهر کې اسلام قبول کړ. ځکه چې هغوی زیاتره د خپل قوم له عالمانو څخه وو، نو د محدثینو او راویانو په صف کې داخل شول. له دې ډلې څخه ځینو کسانو جعلي حدیثونه جوړ کړل، څو له دې لارې اسلام د خلکو په نظر کمزوری او بې‌مغزه وښيي، او د اسلام دښمنان وکولای شي د همدغو جعلي روایتونو په وسیله د مسلمانانو پر ضد دلیل ونیسي.

له همدې امله په حدیث کې راغلي چې امام بخاري رحمه الله روایت کوي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَءُونَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ، وَيُفَسِّرُونَهَا

ketabton.com - The Digital Library



بِالْعَرَبِيَّةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لَا تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ، وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ، وَ { قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ } ". الْآيَةَ.[۱۳۴]

ژباړه: ابو هريره رضي الله عنه وايي: اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه لوست، او بیا به یې مسلمانانو ته په عربي ژبه تفسير کاوه. رسول الله ﷺ وفرمایل: «اهل کتاب مه تصديقوئ (رښتيا يې مه ګڼئ) او مه يې تکذيب کوئ (دروغجن يې هم مه بولئ)، بلکې ووايئ: موږ پر الله او پر هغه څه ايمان لرو چې موږ ته نازل شوي دي.»

يعني مسلمان بايد خپل معيار قرآن او صحيح سنت وګرځوي، نه دا چې هر څه چې اهل کتاب وايي، بې له تحقيقه يې ومني يا يې رد کړي.

## نهه ديرشم عمل

### يهودو خپل دين ټوټې ټوټې کړ

د يهودو له بل جرم څخه دا هم و چې خپل دين يې په ګڼو ډلو او فرقو وويشه.

افسوس چې اوس د اسلامي امت هم همدا حال دی، هر سړی د خپلې ډلې د غړو لو پسې دی، د خالق په ځای د مخلوق د رضا حاصلولو په هڅه کې دي، د ځان ښه وايه او د بل مسلمان پسې بد وايه، داسې خلک د مسلمانانو د کمزورئ لامل ګرځېدلي دي، مسلمانان يې په جوازي او مباحو مسائلو کې په جنګ سره اچولي او کفري نړۍ خپلې نخرې راباندې کوي.

هر سړی دين او قرآن له خپل نظر او رايي سره برابروي، د دې پر ځای چې دوی د قرآن تابع شي نو قرآن يې د ځان تابع ګرځولی، څه چې يې زړه غواړي وايي يې او کوي يې.

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله ﷺ وفرمایل:

" افْتَرَقَتِ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى ـ أَوْ ثِنْتَيْنِ ـ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَتَفَرَّقَتِ النَّصَارَى عَلَى إِحْدَى ـ أَوْ ثِنْتَيْنِ ـ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً ".[۱۳۵]

---

[۱۳۴] [صحیح البخاري: حديث شمېره: ۴۴۸۵]

[۱۳۵] [سنن ابي داود: ح ش: ۴۵۹۶/جامع الترمذي: ح ش: ۲۶۴۰]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: «یهود په یو اویا (۷۱) یا دوه اویا (۷۲) فرقو وویشل شول، او نصاری په یو اویا یا دوه اویا (۷۲) فرقو ووېشل شول، او زما امت به په درې اویا (۷۳) فرقو (ډلو) وېشل کیږي. »

دا حدیث موږ ته خبرداری راکوي چې د دین په نوم تفرقې، ډلبندۍ او د حق له لارې څخه بېلېدل د پخوانیو امتونو ستره ستونزه وه.

نو هر څوک چې د رسول الله ﷺ له امت څخه ځان جلا کړي، یا له ګمراه ډلو او منحرفو فکرونو سره یوځای شي، په حقیقت کې ځان د هماغو پخوانیو امتونو له لارې سره مشابه کوي.

له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی:

«وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاث وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ، إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً". قَالُوا : وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ قَالَ : " مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي» [136]

ژباړه: بني اسرائیل په ۷۲ فرقو ووېشل شول او زما امت به په ۷۳ فرقو ووېشل شي؛ ټول به په اور کې وي پرته له یوې فرقې.

صحابه‌وو وپوښتل: هغه کومه ده؟

رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه چې زه او زما صحابه پرې یو.

له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی:

"افترقت بنو إسرائيل بعد موسى على إحدى وسبعين فرقة كلها في النار إلا فرقة، وافترقت النصارى بعد عيسى عليه السلام على اثنتين وسبعين فرقة كلها في النار إلا فرقة، فأما اليهود فإن الله يقول: {وَمِنْ قَوْمِ مُوسَى أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ} وأما النصارى فإن الله تعالى يقول: {مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُقْتَصِدَةٌ} فهذه التي تنجو وأما نحن فيقول الله تعالى: {وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ} فهذه التي تنجو من هذه الأمة. [137] "

---

[136] [جامع الترمذي: ح ش: ۲۶۴۱]

[137] [كنزالعمال: ج۲/ص۴۱۳، ح ش: ۴۳۸۲]

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: بني اسرائيل له موسى عليه السلام وروسته په (۷۱) فرقو ووېشل سوو، له يوې پرته به نورې ټولې په اور کې وي، او نصارې له عيسى عليه السلام وروسته په (۷۲) ډلو ووېشل سوو، له يوې پرته به نورې ټولې په اور کې وي.

د يهودو په اړه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ﴾ د موسى (ع) په قوم کښي هم يوه ډله وه چي له حق سره سمه ښوونه يې کوله او له حق سره سم يې عدالت کاوه.

د نصاراو په باره کې الله ﷻ فرمايي: ﴿مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ﴾ که څه هم چي په دوى کښي ځيني خلك په سمه لاره تلوونکي هم شته، خو زياتره يې ډېر بد عمله دي.

دا هغه ډلې دي چي نجات يې موندلى دى.

او زموږ په باره کې الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ﴾ زموږ په مخلوق کښي يوه ډله داسي هم شته چي بيخي له حق سره سمه لارښوونه او له حق سره سم عدالت کوي.

دا د دې امت هغه ډله ده چي نجات به پيدا کوي. نجات هغه ته دى چي د سنت او صحابه‌وو پر لاره وي.

## څلوېښتم عمل

## د يهودو او نصاراوو د آذان ډول

عَنْ أَبِي عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عُمُومَةٍ لَهُ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ : اهْتَمَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ كَيْفَ يَجْمَعُ النَّاسَ لَهَا، فَقِيلَ لَهُ : انْصِبْ رَايَةً عِنْدَ حُضُورِ الصَّلَاةِ، فَإِذَا رَأَوْهَا آذَنَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا. فَلَمْ يُعْجِبْهُ ذَلِكَ. قَالَ : فَذُكِرَ لَهُ الْقُنْعُ ؛ يَعْنِي الشَّبُّورَ - وَقَالَ زِيَادٌ : شَبُّورُ الْيَهُودِ - فَلَمْ يُعْجِبْهُ ذَلِكَ. وَقَالَ : هُوَ مِنْ أَمْرِ الْيَهُودِ. قَالَ : فَذُكِرَ لَهُ النَّاقُوسُ، فَقَالَ : هُوَ مِنْ أَمْرِ النَّصَارَى، فَانْصَرَفَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ وَهُوَ مُهْتَمٌّ لِهَمِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأُرِيَ الْأَذَانَ فِي مَنَامِهِ، قَالَ : فَغَدَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ لَهُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَبَيْنَ نَائِمٍ وَيَقْظَانَ إِذْ أَتَانِي آتٍ فَأَرَانِي الْأَذَانَ. قَالَ : وَكَانَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَدْ رَآهُ قَبْلَ ذَلِكَ

ketabton.com - The Digital Library



فَكَتَمَهُ عِشْرِينَ يَوْمًا. قَالَ : ثُمَّ أَخْبَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهُ : " مَا مَنَعَكَ أَنْ تُخْبِرَنِي ؟ ". فَقَالَ : سَبَقَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ فَاسْتَحْيَيْتُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يَا بِلَالُ، قُمْ فَانْظُرْ مَا يَأْمُرُكَ بِهِ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ فَافْعَلْهُ ". قَالَ : فَأَذَّنَ بِلَالٌ. قَالَ أَبُو بِشْرٍ : فَأَخْبَرَنِي أَبُو عُمَيْرٍ أَنَّ الْأَنْصَارَ تَزْعُمُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ لَوْلَا أَنَّهُ كَانَ يَوْمَئِذٍ مَرِيضًا لَجَعَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُؤَذِّنًا.[١٣٨]

ژباړه: رسول الله ﷺ غور کاوه، لمانځه ته يې پام اړولی و، چې د لمانځه لپاره خلک په څه طريقه راغونډ کړي، ده ﷺ ته وويل شول چې: کله د لمانځه وخت داخليږي يو بيروغ دروئ، نو کله چې يې څوک ويني هغوی به ځينې ځينو نورو ته خبر ورکوي. خو رسول الله ﷺ دا نظر خوښ نکړ.

راوي وايي: چې رسول الله ﷺ ته د بوق ياني شبور (لکه لوړ سپيکر ته ورته يوه اله چې اواز لوړوي) يادونه وشوه، زياد رضي الله عنه وايي چې د يهودانو د دغه شبور يادونه وشوه. خو رسول الله ﷺ دغه نظر هم نکړ خوښ. او ويې ويل چې دا د يهودو کار دی.

رواي وايي: چې رسول الله ﷺ ته د ناقوس (د کليسا زنګ) يادونه وشوه، خو رسول الله ﷺ وويل چې دا د نصاراوو ياني عيسويانو کار دی، عبد الله بن زيد رضي الله عنه لاړ او د رسول الله ﷺ دي عزم ته ډېر په غور او سوچ کې و، نو په خوب کې آذان وروليدل شو، وايي: سبا رسول الله ﷺ ته راغی، رسول الله ﷺ ته يې دغه خبره وکړه او ورته ويې ويل: اې د الله ﷻ رسول ﷺ زه په خوبوړي حالت کې وم (ياني د خوب او ويښې تر منځ حالت کې وم) چې ماته يو کس راغی او ماته يې آذان راوښود.

راوي وايي: چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه دغسې خوب لا لس ورځې مخکې ليدلی و خو خبره يې پټه کړې وه.

وايي: بيا يې رسول الله ﷺ ته دغه خبره ورسوله، رسول الله ﷺ ورته وويل چې: "ته څه شي منع کړی وې له دينه چې ماته به دې اړه خبر راکړې؟"

---

[١٣٨] [سنن ابي داود: حديث شمېره: ۴۹۸]

ketabton.com - The Digital Library



حضرت عمر رضي الله عنه ورته وویل چې: عبد الله بن زید رضي الله عنه له مانه مخکې شو نو ما ته حیا ودرېده. بیا رسول الله ﷺ وویل: اې بلاله ورشه وګوره عبدالله بن زید رضي الله عنه چې د څه شي لارښوونه درته وکړي هغه وکړه.
وايي: بیا بلال رضي الله عنه آذان وکړ.
ابو بِشر وايي چې ابو عمیر ماته ویلي چې انصار دا ګومان کوي چې که عبد الله بن زید رضي الله عنه په دغه ورځ ناروغ نه وای، نو رسول الله ﷺ به مؤذن مقرر کړی وای.

## یو څلوېښتم عمل

### کله به چې یهود بیت الله ته نږدې شول لاسونه به یې جګ کړل

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّهُ سُئِلَ , عَنْ رَفْعِ الْأَيْدِي عِنْدَ الْبَيْتِ فَقَالَ: ذَاكَ شَيْءٌ يَفْعَلُهُ الْيَهُودُ , قَدْ حَجَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , فَلَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ " فَهَذَا جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُخْبِرُ أَنَّ ذَلِكَ مِنْ فِعْلِ الْيَهُودِ , وَلَيْسَ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ الْإِسْلَامِ , وَأَنَّهُمْ قَدْ حَجُّوا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ[١٣٩]

ژباړه: له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی، چې د بیت الله سره د لاسونو پورته کولو په اړه وپوښتل شو نو ده ورته وویل: دا داسې یو شی دی چې یهودو کاوو، بېشکه چې موږ له رسول الله ﷺ سره حج وکړ او کار یې نه دی کړی.
نو دا جابر بن عبد الله رضي الله عنه دی چې وايي دا کار د یهودو دی، دا د مسلمانانو کار نه دی او دا چې دوی له رسول الله ﷺ سره یو ځای حج کړی دی او هغه ﷺ دا کار نه دی کړی.

# پای

[١٣٩] شرح معاني الآثار: ج٢/ص١٧٦، روایت شمېره: ٣٨٢٣]

ketabton.com - The Digital Library



# مأخذونه



١. قرآن الكريم
٢. د قرآن كريم پښتو ژباړه قيام الدين كشاف:
٣. (https://play.google.com/store/apps/details?id=com.mqbapps.quraninpashto)
٤. كابلى تفسير
٥. تفسير معارف القرآن، په قندهارۍ پښتو: مولانا محمد شفيع، مكتبه حنفيه، كانسي روډ كوئټه.
٦. تفسير القرطبي
٧. تفسير الرازي =مفاتيح الغيب
٨. روائع البيان في تفسير آيات الأحكام من القرآن
٩. صحيح البخاري
١٠. صحيح مسلم
١١. جامع ترمذي
١٢. سنن ابي داود
١٣. سنن ابن ماجه
١٤. سنن الترمذي، ط_الرسالة
١٥. سنن الدارقطني
١٦. سنن النسائي
١٧. مصنف ابن أبي شيبة
١٨. مسند الدارمی
١٩. كنز العمال
٢٠. مسند احمد
٢١. شُعَبُ الإيمان ـ ط الرشد
٢٢. المعجم الكبير للطبراني
٢٣. الآثار لمحمد بن الحسن
٢٤. فتح الباري بشرح البخاري
٢٥. شرح معاني الآثار ـط مصر
٢٦. حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح شرح نور الايضاح
٢٧. شرح مختصر الطحاوي للجصاص
٢٨. الفقه علي المذاهب الاربعة
٢٩. المخارج في الحيل من الأصل لمحمد الحسن، ط_ الثقافة الدينية
٣٠. الفتاوى عالمكيريه_الفتاوى الهندية
٣١. فتاوي فريديه

ketabton.com - The Digital Library




۳۲. موطأ مالك
۳۳. احسن الفتاوي، تألیف: فقیه العصر مفتي اعظم حضرت رشید احمد صاحب (رح)، ژباړن: مولوي محمد هارون صاحب، چاپ: ۲۰۱۲، ناشر: مکتبه فریدیه محله جنګي قصه خواني پېښور
۳۴. مسائل رفعت قاسمي، تألیف: حضرت مولانا رفعت قاسمي استاد دارالعلوم دیوبند، ناشر: جدید مکتبه رشیدیه محله جنګي قصه خواني پېښور
۳۵. د خېښۍ، ودونو، مصیبتونو او همدا راز له حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی فرمان
۳۶. المخارج في الحیل من الأصل لمحمد الحسن، ط- الثقافة الدینیة
۳۷. دراسات في الادیان الیهودیة والنصرانیة
۳۸. د اسلام اساسات
۳۹. إغاثة اللهفان
۴۰. ادیان زنده جهان
۴۱. الیهود في تاریخ الحضارات الاولی
۴۲. په اسلام کې د بریرې حکم: اشرف علی تهانوي (رح): ص۵، پوهه خپرندویه ټولنه کندهار
۴۳. منهاج السنة
۴۴. https://www.myjewishlearning.com/article/jewish-resurrection-of-the-dead/?utm_source=chatgpt.com
۴۵. https://en.wikipedia.org/wiki/Jewish_eschatology?utm_source=chatgpt.com
۴۶. https://en.wikipedia.org/wiki/Reincarnation?utm_source=chatgpt.com
۴۷. https://www.jewishideas.org/article/afterlife-jewish-thought?utm_source=chatgpt.com

ketabton.com - The Digital Library



## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*